# امامت

مؤلف:

**حجت الاسلام محسن قرآئتي**

# امامت

مؤلف:

**حجت الاسلام محسن قرآئتي**

**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د کتاب مشخصات:

د کتاب نوم: امامت

**لیکوال: شیخ محسن قرآئتي**

**د چاپ کال: ۱۳۹۰**

شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

فهرست


امامت ................................................................ ۸
امام ته اړتیا ........................................................ ۱۳
امام لارښود دی ................................................... ۱۷
امام بېلګه ده ....................................................... ۱۸
په ټولنه کې د بېلګو ونډه ....................................... ۱۸
واکمنان هم خلکو ته بېلګه دي ............................... ۲۱
یو مهم حدیث ....................................................... ۲۲
د امامت موخې ...................................................... ۲۵
د امامت ښنې ........................................................ ۲۷
د پیغمبر (ص) هڅې ................................................. ۲۹
ولې د پیغمبر (ص) هڅو پایله نه درلوده؟.................. ۳٤
د حق پلي کولو ته هڅې او چېغې وهل ...................... ۳۵
د امام ځانګړنې ...................................................... ۳۷
عصمت ................................................................ ۳۷
پراخه سینه ............................................................ ۳۹
عدالت ................................................................. ۳۹
له ځاني غوښتنو ډډه کول ........................................ ٤۰
میړانه .................................................................. ٤۱

فضیلت او نېکه مخینه- سابقه ........................................ ۴۲
د حکم بنسټ یې د الله جل جلالهکتاب وي ........................ ۴۲
عطوفت او سیاست.................................................... ۴۳
زهد او سادگي .......................................................... ۴۳
حق پلوی او پلي کوونکی یې وي ...................................... ۴۴
د حق په پلي کولو کې پرېکندتوب .................................... ۴۵
په کارونو کې مخکښي ............................................... ۴۵
بې تکلفه وي ............................................................ ۴۶
له خلکو سره گوزاره .................................................. ۴۶
د تېرو شویو له تاریخه خبر وي ....................................... ۴۸
د خلکو د ستونزو هوارول ............................................. ۴۹
صبر او پر الله جل جلاله ایمان ....................................... ۴۹
مادیات یې پر ځان بوخت نه کړي او اخلاص ولري ................ ۵۰
په پوهه او وړتیا کې تر ټولو وړ وي .................................. ۵۱
له امتیاز غوښتنې ځان وژغوري....................................... ۵۲
د اسلام د گټو ساتل؛ نه د خپلو گټو ................................ ۵۲
د امام ټاکنه ............................................................. ۵۴
امام یوازې الله جل جلاله ټاکي ...................................... ۵۵
الهي انتصاب د حق لار ده ........................................... ۶۰

د ابو علي سینا وینا ........................................ ٦١
پوښتنه او ځواب ........................................ ٦١
د اهل بیتو فضایلو ته لنډه کتنه ........................................ ٦٣
د امام او امت حقوق........................................ ٦٤
د امت دنده........................................ ٦٦
امامت او حج ........................................ ٦٧
له امام څخه د لاروی اغېزې ........................................ ٦٨
واقعي یاران........................................ ٦٩
دروغجن یاران ........................................ ٧٠
پر امامت د ظلم ډولونه........................................ ٧١
اقتصادي تېري........................................ ٧١
فکري تېری ........................................ ٧٢
دورغ جوړول ........................................ ٧٢
تحریف او مخونه........................................ ٧٢
فرهنگي ظلم ........................................ ٧٣
د پوه پر ځای ناپوه ........................................ ٧٣
پلمې او کینې ........................................ ٧٤
د حق وژنې او تیري پراخوالی ........................................ ٧٦
د امامانو پر لارویانو تېري........................................ ٧٧

ډېرې تېروتلي ............................................................ ۷۸
د شيعه و او اهل سنتو همغږي................................................ ۸۰
منع شوی مشري ....................................................... ۸۱
اهل بيت.................................................................. ۸۷
اهل بيت څوک دي ؟ ............................................... ۸۷
د کسا حديث ........................................................... ۸۷
په لمانځه کې پر اهلبيتو درود ...................................... ۸۹
اولی الامر څوک دی ؟ ................................................ ۸۹
اولی الامر دولس دي.................................................. ۹۲
د دولس گونو امامانو موخه يوه ده................................... ۹۳
مهدي اخر زمان.......................................................... ۹٤
ولايت فقيه او نقش يې ............... **Error! Bookmark not defined.**

# امامت

(( امام)) د پېشوا او جمع يې ائمه ده. په حقيقت کې له هر څه چې لاروي کېږي، امام ورته ويل کېږي؛ که کتاب وي که انسان که حق که باطل.[1]

۱_الله جل جلاله په حجة الوداع کې خپل رسول (ص) ته وايي: ((يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ = پېغمبره! څه چې ستا د پالونکي له لوري پرتا نازل شوي، بشپړ (خلکو ته) ورسوه اوکه داسې دې و نه کړل؛ نو د هغه پيغام دې نه دی رسولی، الله جل جلاله تا د خلکو (له احتمالي زيانونو) ژغوري، هو ! الله جل جلاله (ځېلي) کافرانو ته سمه لار نه ښيي. )[2]

۲_په ډېرو روايتونو کې امامت د اسلام د بنسټيزو مسئلو په نامه ښوول شوی دی؛ لکه څنگه چې د وسايل الشيعه په **۳۹** حديث[3] او مستدرک الوسايل په ۱۷ حديث[1] (٤) کې راغلي

---

[1] مفردات راغب

[2] (مائده/٦٧)

[3] وسائل الشيعه ۱/ ۱۳- ۲۹)

دي: د اسلام بنسټ پر څو څيزونو ايښوول شوی دی، چې ولايت او مشري پکې ترټولو مهم دي.
امام محمد باقر وايي: د اسلام بناوې لمونځ، روژه، حج، زکات او ولايت دی. "زراره"، چې د امام له شاګردانو و، وپوښتل: کوم يو پکې تر ټولو مهم دی ؟ امام ورته وايي: ولايت او بيا وايي: ځکه چې ولايت د مسايلو کونجي ده.
توحيد، چې د دين لومړی آر دی؛ نو هله به پلي شي، چې د ټولنې واکمن، معصوم امام وي او که داسې نه وي؛ نو د توحيد پر ځای به شرک او طاغوت په ټولنه کې ريښې ښخې کړي. نبوت او شريعت هله غښتلېدای شي، چې د معصوم مشر پرې څارنه وي او که داسې نه وي؛ نو شخصي سليقې او بدعتونه به پکې رانوځي او وحې به له اعتباره ووځي. که رښتيا راباندې وياست؛ نو له قانون او پر حقه مشر پرته ټولنه؛ يعنې ځنګل او هر يو قانون او مشر د يو بل بشپړونکي او نه بېلېدونکي دي؟ پر معاد او مسايلو يې ځان پوهونه يوازې د معصوم امام له لارې شونې او د ډاډ وړ ده. امامت دی، چې لمونځ ته روح

[1] مستدرك ١/ ٦٩- ٧٥)

ورکوي، حج او روژې ته لوري ورکوي، جهاد ته مشروعيت ورکوي او الهي فرايض بيا ژوندي کوي.

امام د برېښنا د کارخانې په څېر ټولو څراغونو ته رڼا ورکوي، هو ! د مشرۍ او امامت مساله په اسلامي ټولنه کې دومره مهمه ده، چې هيڅ اړنګ چاته نه پاتې کيږي.[1]

[1] [ د ژباړن يادونه: په افغانستان کې ددې مسلې اهميت هېوادوالو ته د لمر په په څېر برښنډ دی؛ موږ جهاد وکړ، شهيدان مو ورکړل، هېواد مو کنډواله شو؛ خو د سمې مشرۍ د نشتون له امله دا ټول پوپنا شول؛ نو اړينه ده، چې په ټولنه کې د مشروع مشر د منځ ته راتګ لپاره خلک له ديني اړخه وپوهول شي، چې همدا مبحث به مو لږو ډېر له دې چارو سره بلد کړي ]

# توحيد او امامت دوه سترې کلکې الهي کلا ګانې دي

امام رضا، چې د نيشابور له ښاره تېرېده؛ نو مينه والو ورنه د يو حديث روايت وغوښته؛ نو امام رضا ورته د سلسلة الذهب مشهور حديث ووايه، چې هغه له خپل پلار او هغه هم د الله جل جلاله له رسول (ص) او د الله جل جلاله رسول (ص) هم له حضرت جبرائيل امين څخه را نقل کړی و:

کلمة لااله الاّ اللّه حِصنی فمَن دَخل حِصنی أمن من عذابی - "توحيد زماستره کلکه کلا ده او څوک، چې ورننوت؛ نو زما له عذابه به ژغورل شوی وي."

بيا امام وويل: " بشروطها و أنا من شروطها" - توحيد له شرطونو سره الهي کلا ده او زه يو له هغوی شرطونو يم [1]. دلته امام رضا د توحيد او امامت ترمنځ د شرط او مشروط اړيکه ټينګه کړه؛ هماغه اړيکه، چې د لمونځ او اودس تر منځ ده؛ يعنې له امامت پرته د توحيد پېښه ښوييدلې ده او له اودس پرته

[1] عيون الاخبار، ۲/ ۱۳۵

لمونځ نه کېږي او چې د توحيد خبره مطرح وي؛ نو د معصوم مشر خبره هم مطرح ده. په دې حديث کې امام رضا توحيد کلکه الهي کلا ښوولې او په يو بل حديث کې د الله جل جلاله رسول (ص) د حضرت علي ولايت کلکه الهي کلا ښوولی ده او ويلې يې دي، چې لوی الله جل جلاله ويلي دي:

" ولاية عليّ بن ابيطالب حصنى فمَن دخل حصنى أمن مِن عذابى" - د علي بن ابيطالب د ولايت منل زما کلا ده او ځوک، چې ورننوت؛ نو له الهي عذابه ژغورل شوی دی.[1]

ددې دوو روايتونو په رڼا کې توحيد او ولايت دوه سترې الهي کلا ګانې دي، چې دواړه يو د بل تر څنګ له الهي عذابه د ژغورلو تومنه ده .

[1] بحارالانوار،۳۹/ ۲۵٦

## امام ته اړتیا

د کومو دلیلونو له مخې، چې پیغمبر ته اړتیا لرو دهمغو له مخې امام ته هم اړتیا لرو، په مخکې څپرکي کې مو نبوت ته دلیلونه راوړل او پردې سربېره هغه ټکي، چې پیغمبر او امام ته د اړتیا په دلیلونو کې ګډ دي، د امام د اړتیا لپاره یو لړ نور دلیلونه هم شته:

۱ـد الهي احکامو د پلي کولو او ساتنې لپاره حکومت او ځواک ته اړتیا ده او ځواک او حکومت هم غوره مشرۍ ته اړتیا لري؛ په تېره بیا هغه وخت، چې د پیغمبرانو لړۍ پای ته رسېدلې وي او د حضرت محمد (ص) خاتمیت مو منلی وي.

۲ـ آیا داسې کېدای شي، چې الله جل جلاله د یو قوم لپاره پیغمبر راولېږي او هغه پیغمبر د سختیو په ګاللو سره احکام اوقوانین راوړي او بیا هغه ټولنه همداسې بې برخلیکه پخپل سر ایله پرېږدي؟ آیا دا د حکمت کار دی ؟

رښتیا، چې وایي پیغمبر په هغه سختیو د ښوونځي او امت بنسټ کېښود او ولاړ؛ نو د الله جل جلاله حکمت او د پیغمبر

(ص) زړه سواني ته به څه ځواب ورکوي؟ کوم مسئول مقام به خپل خلک داسې بې برخلیکه پرېږدي ؟!

۳_ اساسا دین یا باید له دننیو غوښتنو او بهرنیو پېښو سره همغږي ولري او په اصطلاح وده راوړونکی او وده ورکوونکی وي او د هر وخت غوښتنو ته ځواب ورکوونکی وي اویا دا، چې لنډ مهاله وچ قوانین ولري، چې د وخت په تېرېدو سره هېر شي.

که له دین سره په څنګ کې امام وي؛ نو د ړومبي ډول په څېر به وي او که امام ورسره نه و؛ نو دویم ډول به وي؛ ځکه په یو روایت کې راغلي:

پر حق امامت او مشري د دین چارواکي ده او د مسلمانانو د راټولېدو او د مؤمنینو د عزت او د دنیوي چارو د اصلاح لامل دی.[1]

امامت د پرمختللي اسلام بنسټ دی؛ یعنې، چې وکړای شي، د بشریت د کاروان د وګړیو، ټولنیز، مادیې او معنو یې اړتیاوې پوره کړای شي.

---

[1] عیون الاخبار ۱/۲۱٦

پورتني روايت مو پوهوي چې بې له امامه اسلام، زړېدونکی او له منځه تلونکی دی. انساني ټولنې ته هر وخت يو لړ گواښونه په ځار کې وي، چې که پردې مهال امام، الهي احکام له وحې څخه په الهام کې راونه سپړي؛ نو په ټولنه کې به گډ وډي راشي؛ نو د هر ښوونځي تر څنگ د امام شتون ډېر ضروري دی.

٤_لکه څنگه، چې په ډنډ کې لامبو تکړه لامبو وهونکي استاد ته اړتيا لري او له سمندره تېرېدو لپاره بېړۍ او ماڼو ته اړتيا وي؛ نو دنيا هم ژور سمندر دی، چې کشتۍ او ماڼو ته اړتيا لري.[1]

دا له کوم منطق او حکمت سره اړخ لگوي، چې الله جل جلاله کمزوري او ناآشنا لامبو وهونکي په دې ستر سمندر کې همداسې پر خپل حال پرېږدي!

٥_ لکه څنگه، چې الله جل جلاله په بدن کې عقل واکمن کړی، چې غړي له بې لارۍ وساتي؛ نو ټولنې ته يې هم واکمن ټاکلی، چې پر کږه ولاړه نشي او گډ وډي پکې رانشي.

آيا قرآن شريف کافي دی ؟

د قرآن شريف په شتون کې امام ته څه اړتيا ده ؟

---

[1] کافی ١/ ١٥

قرآن شریف د قانون کتاب دی او قانون مفسر او پلي کوونکي ته اړتیا لري. د نن سبا په نظامونو کې هم د مقننه قوې تر څنګ مجریه او قضایه قوې هم شته؛ ځکه قانون پلي کوونکیو او د پلي کېدو ضمانت ته اړتیا لري.

د هر څه جزییات؛ لکه د لمونځ د رکعتونو شمېر یا د طوافونو شمېر په قرآن شریف کې نه دي راغلي او ډېر جزیي او مقطعي مطالب په قرآن شریف کې نه دي راغلي او پېغمبر (ص) په خپل وخت کې امامانو او د خپل وخت خلکو ته بیان کړي دي.

قرآن شریف وایي: په پېغمبر (ص) پسې ولاړ شئ او خپل حکمونه له هغه واخلئ.

((وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا))[1] څه، چې د الله جل جلاله استازی وایي؛ نو و یې کړئ او له څه مو، چې ژغوري؛ نو مه یې کوئ او پرېږدئ یې.

دا آیت له نبوي سنته پر لاروی دلالت کوي؛ ځکه د الله جل جلاله له رسول (ص) لاروي له خدایه لاروي ده. ((مَّنْ يُطِعِ

[1] حشر/۷

الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّهَ))[1] د امامت او ولایت منل هم د الله جل جلاله د رسول (ص) له سنتو څخه لاروي ده.

## امام لارښود دی

په هر مادي او معنوي خوځون کې څو څیزه مطرح دي:
۱_ لار او مسیر. ۲_وسیله او اوزار. ۳_موخه او مقصد. ٤_ مشر او لارښود.
چې په دوی کې تر ټولو د امام او مشر ونډه ممهه ده؛ ځکه که هغه نه وي؛ نو هم به لار ورکه کړو او هم موخه او هم له وسیلو به په سم او مناسب ځای کې کار وانخلو.

[1] نساء/۸۰

## امام بېلګه ده

امام بېلګه دی. که ځان ته بشپړ او واقعي بېلګې انځور نه کړو او مینه ورسره و نه کړو؛ نو ذهن ته به د باطلو تبلیغاتو دروغجنې او باطلې بېلګې راشي او پر لوري به يې ورمات شو او هغوی به موږ خپلې لوري ته راکاږي.
امام یوازې لارښود نه دی؛ بلکې امام هم دی، یوازې پالندوی نه دی؛ بلکې امام دی؛ یعنې د هغه کار، عبادت، خوړل، جنګېدل، چوپتیا، فریاد او. . . . موږ ته بېلګه او زده کړه ده.

## په ټولنه کې د بېلګو ونډه

قرآن شریف د پیغمبر (ص) مېرمنو ته وایي: يَا نِسَاء النَّبِيِّ مَن يَأْتِ مِنكُنَّ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ يُضَاعَفْ لَهَا الْعَذَابُ ضِعْفَيْنِ [1] = د پیغمبرمیرمنو! له تاسې چې هره یوه ښکاره بدکار وکړي (؛ نو)

---

[1] احزاب/۳۰

هغې ته به دوه گرايه عذاب ورکړای شي )). ؛ ځکه، د پیغمبر (ص) مېرمنې په عملي بڼه نورو ته بېلګه دي.
په حديث کې راغلي دي: [ يُغفر للجاهل سبعون ذنباً قبل أن يغفر للعالم ذنب واحد [1]- مخکې تر دې، چې د پوه يوه گناه و ښل شي د ناپوه به اويا گناهونه وبښل شي. ] هو! پوهان په ټولنه کې خلکو ته بېلګه دي؛ نو تېروتنه يې هم ستره شمېرل کيږي.
مشرانو ويلي دي: عالم، چې صغيره گناه کوي؛ نو ورته کبيره گناه شمېرل کيږي؛ ځکه د هغه کړه وړه پر نورو د نورو په پرتله خوار اغېز لري. دا چې د بدعتگر او د بې لارۍ د بنسټگر گناه د نورو په پرتله څو ځل ډېره ده، دا ځکه هغوی په ټولنه کې د بېلگې او مشرۍ ونډه لري.

**د تاريخ يوه پاڼه**

امام هادي يې وپوښت: د جمل په جگړه کې به، چې څوک ټپي شو؛ نو حضرت علي به پرېښووه؛ خو ولې يې د صفين په جگړه کې د ټپيانو د وژلو حکم کاوه ؟ امام ورته وويل: د

[1] کافي ۱/ ۴۷

صفین په جګړه کې لا د مخالفینو مشران ژوندي و؛ نو هغوی به بېرته ټپیان او تښتېدلي راټولول او تنظیمول یې او د فساد ریښـه لا په اوبو کې وه ( چې ریښه په اوبو کې وي؛ نو د ثمر هیله ترې درلودلای شو)؛ نو د فساد د جرړې د راویستولو او د دسیسو د پای ته رسولو لپاره باید کوم اغېز یې پاتې نشی؛ خو د جمل په جګړه کې دهغوی د مشرانو تر وژل کېدو وروسته ټپیانو او تښتېدلیو ته پناه ځی نه و پاتې؛ نو چا به چې ټپ اخسته او یا تښتېده؛ نو نه تعقبیده[1].

## په قیامت کې د امامت انعکاس

په قرآن شریف کې راغلي دي: ((یَوْمَ نَدْعُو کُلَّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ [2] (= (درياده کړه هغه ورځ) چې موږ هره ډله د هغې له مشرانو سره راغواړو)).

دې آیت په سپینه د خلکو په لارښوونه او بې لارۍ کې د امام پر ونډه رڼا اچولې. هغه ونډه، چې لارویان دوزخ او یا جنت ته وړای شي. په قیامت کې به بېوزله خپلو فاسدو مشرانو ته

[1] تحف العقول ۵۰۸ مخ

[2] اسراء/۷۱

وایي: ((لَوْلاَ أَنتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ [1] = که تاسې نه واست؛ نو موږ به هرومرو مؤمنان وو))

## واکمنان هم خلکو ته بېلگه دي

الله جل جلاله د توبې په سورت کې مسلمانانو ته فرمان ورکوي، چې د مبارزې او جهاد په ډگر کې د کفر پر ريښو او مشرانو گوزار وکړئ: ((فَقَاتِلُواْ أَئِمَّةَ الْكُفْرِ))[2]؛ نو د کفر له مشرانو سره مبارزه وکړئ. د امامانو په وېناوو کې هم دې مهمې خبرې ته پام شوی دی.

حضرت علي وايي: الناس بامرائهم أشبَه منهم بآبائهم -له خپلو مشرانو د خلکو بېلگه اخستل تر موروپلار له بېلگه اخستو ډېر اغېز لري.[3]

په بل روايت کې راغلي دي: الناس على دين ملوکهم - د ولس دين د چارواکو دين دی.[1]

[1] سباء/۳۱

[2] توبه/۱۲

[3] تحف العقول ۲۰۸ مخ

د الله جل جلاله استازی وايي: (( صِنفان من امّتی اذا صلحا صلحت امّتی و اذا فسدا فسدت امّتی- چې په امت کې مې دوه ډلې فاسدې شي؛ نو ټول به فاسد شي او که صالح ول؛ نو پر ټولو به اغېز وکړي او ټول به صالح شي. ))؛ نو په دې وخت کې وپوښتل شو، چې هغه دوه ډلې څوک دي ؟ ورته يې وويل: ((الفقهاء و الأُمراء- پوهان او چارواکي. )) [2]

## يو مهم حديث

په يو روايت کې راغلي:

قال اللّه تبارك و تعالى: لاعذّبنّ كلّ رعيّة فى الاسلام دانت بولاية كلّ امام جائر ليس من اللّه و اِن كانت الرعية فى اعمالها بَرَّة تقيّة و لاعفونّ عن كلّ رعيّة فى الاسلام دانت بولاية كلّ امام عادل من اللّه و اِن كانت الرعيّة فى انفسها ظالمةً مسيئة - الله جل جلاله وايي: هرې ډلې، چې د تېرې کوونکي او ظالم مشر مشري ومنله؛ نو زما پر عذاب به ککړ شي که څه هم دا خلک پخپله د تقوا خاوندان او صالح خلک وي او چې

---

[1] كشف الغمّه ۲/ ۲۱

[2] بحارالانوار ۲/ ۴۹

خلکو يې د عادل امام مشري ومنله؛ نو د الله جل جلاله لطف په پرې وي که څه هم دا خلک ټخپله ظالمان او بد خلک وي.[1]

له دې حديثه ګټنه کېږي، څه چې تر عمله غوره دي، د عادل امام د مشرۍ منل دي؛ لکه څنګه چې د موټر چلونکی هوښيار، د تجربې خاوند او سم انسان وي؛ نو دا موټر به تر منزله ورسي که څه هم په دې موټر کې داسې سپرلۍ ناستې وي، چې په موټر کې سيګرټ څښې، موټر چټلوي او د مېوو پوټکي پکې اچوي او يا دا چې بد خلک وي؛ خو که د همدې موټر چلونکی مست، ړوند او يا ناسم انسان وي؛ نو که سپرلۍ هر څومره هم پاکې او تکړه وي؛ نو دا سپرلۍ به مقصد ته ونه رسي.

هو ! څه چې په حرکت کې اصالت لري، مشري او په مسير کې يې حرکت دی.

په قرآن شريف کې راغلي دي: ((فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَاءهُمْ وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ

[1] کافی ۱/ ۳۷۶

اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ [1] = نوکه ستا دا وړاندیز يې و نه مانه؛ نو پوه شه چې هغوی يوازې د خپلو هوسونو لارويان دي او تر هغه به څوك لوی بې لارې وي، چې له الهي لارښوونې پرته په خپل هوس پسې ولاړ شي؟! په رښتيا چې الله جل جلاله ظالمانو ته سمه لار نه ښيي. )).

د پورتني آيت تر تفسير لاندې روايت دی، چې: چا، چې پخپله خوښه خپله لاره وټاکله او له حقيقي امام يې لاروي و نه کړه؛ نو په دې آيت کې شامليږي او تر ټولو بې لارې دي[2].

په بل حديث کې راغلي دي: څوک چې ډېر عبادت کوي؛ خو حقيقي امام او مشر و نه لري؛ نو ټولې هڅې او کوښښونه يې اوبه وړې او په حقيقت کې بې لارې دی او الله جل جلاله هم د عبادتونو او کړنو دښمن يې دی. (( والله شانئ لاعماله ))[3]

---

[1] قصص/ ٥٠

[2] تفسير الميزان ١٦/ ٥٦

[3] کافی ١/ ١٨٣

## د امامت موخې

د مشرۍ موخه د الهي احکامو پلي کول او ولس کمال ته رسول او له ظلم، تېري، ناپوهۍ او تفرقې يې ساتل دي او نه ځواک او شتمنۍ ته رسېدل؛ نو په اسلام کې امامت څوکۍ نه ده؛ بلکې مسئوليت دی. سوکالي نه ده؛ بلکې پېټی دی او امام د عادي ژوند خاوند دی او عادي خواړه خوري او د نورو په څېر کار کوي او ساده جامې اغوندي او ځان ته هېڅ ډول امتياز نلري.

حضرت علي په يو ليک کې ابن عباس ته ليکي: (( امّا بعد، فلا يکن حظّك فی ولايتك مالا تستفيده و لا غيظا تشتفيه ولکن اماتة باطل و احياء حقّ= په واکمنۍ کې نه بايد جېب ډک کړی او حق نه لرې، چې له خپل ځواکه ناوړه ګټنه وکړې او سيال ته دې د خپل ځواک ښوولو په هڅه کې نشې؛ بلکې موخه دې بايد د باطل له منځه وړل او د حق ژوندي کول وي)) [1]

[1] بحارالانوار ۴۰/ ۳۲۸

وروسته تر دې، چې حضرت علي د حکومت واک په لاس کې واخیست؛ نو خلکو ته یې وویل: ((دخلتُ بلادکم بأشمالی هذه و رحلتی و راحلتی ها هی فاِن أنا خرجتُ من بلادکم بغیر ما دخلتُ فانّنی من الخائنین= له ساده سامان، زړو جامو او له دې سپرلۍ سره ستاسې ښار ته راننوتم او که تر څه مودې وروسته مې په وضع کې بدلون راغی؛ نو پوه شئ، چې په بیت المال کې مې خیانت کړی دی. ))[1].

او همداسې حضرت علي (نهج البلاغه، ۲۱٤ مه خطبه) وایي: الله جل جلاله پر ما او تا د یو بل حقونه ایښي دي او داسې نه ده، چې واکمن به یوازې "امر و منع" کوي او له مقامه به خوند اخلي او حکمونه به کوي.

نو پر دې بنسټ په اسلام کې د حکومت موخه د واکمن مزې چړچې نه دي او که داسې نه وه؛ نو حضرت علي به د خپل حکومت پر مهال خپل بوټان پخپله نه ګنډل او په سخته کې به یې ژوند نه کاوه او د خپل ورځني ژوند د لګښت پوره کولو ته به نه اړ کېده، چې خپله توره وپلوري او ووایي: (( واللّه لو کان عندی ثمن اِزار ما بِعتُه= پر الله جل جلاله قسم که د یو جوړ

[1] بحارالانوار ۴۰/ ۳۲۵

جامو د اغستو هومره پېسې مې درلودې؛ نو خپله توره مې نه پلورله. ))[1]

هماغه مهال، چې پر امام رضا وليعهدي ور وتپل شوه؛ نو پر پوزکي به يې ژوند کاوه او له مريانو سره به يې خواړه خوړل. سليمان عليه السلام هم له هغومره شان وشوکت او دبدبې سره له بېوزليو سره خواړه خوړل او ورسره يې ناسته پاسته کوله[2].

## د امامت نښې

د الله جل جلاله رسول، چې د خپل عمر له وروستي حجه راستنېده؛ نو غدير خم نومي ځای ته چې راورسېدل، چې حاجيان پکې يو له بله بېلېدل او خپلو سيمو (يمن، مدينه، عراق، حبشه) ته ستنېدل؛ نو پردې مهال د الله جل جلاله له لوري پېغمبر (ص) ته دستور راغی او پېغمبر هم دا امر په ځانګړو تشريفاتو ترسره کړ او پورتنې آيت نازل شو، چې:

١_نن کفار نهيلي شول؛ ځکه د شاعر، ساحر او مجنون تورونو هېڅ هم و نه کړای شول او د بدر، خيبر او خندق جګړې هم د

---

[1] بحارالانوار ٣٤/ ٣٥٠

[2] الحياة ٢/ ٢٣٣

مسلمانانو په ګټه شوې وې او د کفارو یوازېنۍ هیله د الله جل جلاله د رسول (ص) له دې نړۍ سترګې پټول و او له ځان سره یې ویل، چې پېغمبرخو زوی نه لري او ځایناستې یې هم نه دی ټاکلی؛ نو په مړینې به یې د دین څراغ هم مړ شي؛ نو همدا چې و یې لیدل، چې د الله جل جلاله او د هغه د رسول (ص) له لوري حضرت علي ځایناستې وټاکل شو؛ نو د کفارو د هیلې دا کاسه هم په خاورو ایرو شوه.

هو! پر هغه ورځ کفار نهیلې شول.

۲_نن دین بشپړ شو؛ ځکه د قانون تر څنګ واکمن هم راغی. د حکم ترڅنګ پلي کوونکی هم راغی او د طرح په څنګ کې بېلګه هم راغله او د اسلام د موټر چلولو لپاره چلونکی و ټاکل شو.

هو! بې مشره دین، له ډاکټر بې درملو په څېر بشپړېدای نشي.

۳_ نن تاسې مسلمانانو ته الهي نعمتونه د تمامېدو پړاو ته ورسېدل.

که ټول نعمتونه وي؛ خو د مشرۍ نعمت نه وی؛ نو چارې نیمګړي دي؛ ځکه د مشر په لارښـوونو انسان له الهي نعمتونو سمه ګټه اخستی شي.

٤_نن، چې تاسې د قانون او واکمن خاواندان یاست؛ نو اسلام له هر اړخه بشپړ شو او زه ستاسې ته داسې ښوونځی خوښوم.

## د پېغمبر (ص) هڅې

د اسلام پېغمبر (ص) له هماغه پیله په بېلابېلو مناسبتونو کې د مشرۍ خط مطرح کړی و. پېغمبر، چې د لومړي ځل لپاره خپله بلنه ښکاره کړه او دا آیت راغی، ((وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ[1] = او خپل نژدې خپلوان دې وویروه.))

نو پېغمبر(ص) خپل ټبر راوغوښت او تر خوړو وروسته یې ورته وویل: په تاسې کې، چې څوک تر ټولو وړومبی پر ما ایمان راوړي؛ نو په تاسې کې به هغه زما ځایناستې، وصي او خلیفه وي؛ نو پر دې مهال تر ټولو وړومبی، چې خپل ایمان څرګند کړ حضرت علي و[2]. د تبوک په جګړه کې هم پېغمبر (ص) حضرت علي په مدینه کې خپل ځایناستې کړ او ورته

[1] شعراء/ ۲۱۴

[2] بحارالانوار ۱۸/ ۱۶۲

يې وويل: (( ته ما ته داسې؛ يې لکه هارون، چې موسی ته و؛ خو په دومره توپير، چې تر ما وروسته بل پيغمبر نه راځي)) [1].

حضرت رسول (ص) به تر ځان ورسته د مشر د معرفي کولو لپاره د خلکو پام زهرا بي بي ته وراړاوه او ويل به يې: ((فاطمة بضعة منّی - فاطمه مې د وجود ټوټه ده. )) [2]. د فاطمې بي بي خوښي او ناخوښی به يې د حق او باطل کچه ښووه او ويل يې: ((يا فاطمة انّ اللّه يرضی لرضاك- فاطمې ! د الله جل جلاله خوښي ستا په خوښۍ کې ده. ))[3]

کله به حضرت رسول (ص) په زړه پورو تشبيهاتو سره په راتلونکيو فتنو رڼا اچوله او له دې فتنو د وتو لار به يې هم ښووله؛ لکه د فتنو په طوفانو او سيلابونو کې خپل اهل بيت يې د نوح بېړۍ ته تشبيه کول او ويل يې: ((مثل اهل بيتی کسفينة نوح مَن رَکبها نجی - اهل بيت مې د نوح د بېړۍ په څېر دي؛ نو څوک، چې پکې سپاره شول؛ نو ژغورل شوي به وي. )) [4].

---

[1] بحارالانوار ۵/ ۲۰ او د تفسير نمونه ٦/ ۳۴۳ کې په دې اړه مفصل بحث شوی دی

[2] شرح نهج البلاغه١٦/ ۲۷۲

[3] بحارالانوار ۴۳/ ۴۸

[4] الغدير ۲/ ۳۰۱

یعنې یوازې دوی دي، چې په سختو ناوړو پېښو او فتنو کې کړای شي، چې موږ له دې فتنو رابهر کړي او که څوک بې له دوی په بل پسې ولاړل؛ نو ډوب شوي به وي. حضرت رسول (ص) به د امام د معرفي کولو او ورته د رجوع په هکله هم وېناوې کولې؛ لکه: ((أنا مدينة العلم و عليّ بابها- زه دعلم ښار يم او علي يې ور دی. ))[1]

یوه ورځ حضرت رسول(ص) حضرت عمار ته وویل: (( یا عمار تقتلك الفئة الباغية- عماره ! باغي ډله به دې ووژني. ))[2]

د حضرت رسول (ص) دې خبرې کلونه وروسته د اسلام پر دښمن گوزار وکړ؛ ځکه د صفين په جگړه کې حضرت عمار د حضرت علي (ک) په پلوۍ د معاويه پر خلاف جنگېده او همداچې د معاويه له لورې ووژل شو؛ نو خلکو ته د حضرت رسول (ص) دا خبره را پر یاده شوه او خلکو غوښتل، چې د معاويه پلوي پرېږدي؛ خو معاويه د عمرو عاص په مرسته خلک وغولول او د حضرت رسول (ص) خبره یې داسې توجیه کړه، چې عمار موږ نه دی وژلی؛ بلکې هغوی وژلی،

---

[1] شرح نهج‌البلاغه ۷/ ۲۱۹

[2] بحارالانوار ۱۲۳/۱۸

چې عمار يې دلته جګړې ته راوستی دی او ساده خلک هم پر دې خبره وغولېدل.
حضرت رسول (ص) به کله ابوذر د حق ملاک کاوه او ويل به يې: (( ژبه يې ريښتينه او وينا يې حق ده او يا دا، چې ويل به يې: بې له ابوذره پر ځمکه لا لمر رڼا نه ده خپره کړې. )) [1]
يعني خلکو! وګورئ، چې د مشرۍ په مسئله کې ابوذر په چا پسې ځي؛ نو تاسې هم په هماغه پسې ولاړ شئ.
د حضرت رسول (ص) د خپل ځايناستي په ټاکلو کې خورا کوښښ وکړ، چې تر ځان وروسته خلکو ته سمه لار وښيي ان تر دې، چې تر حضرت علي وروسته امامان يې هم خلکو ته ور وپېژندل، چې خلک لار ورکه نه کړي.
د ځلکدن پر مهال يې هم له خپلو هلو ځلو او کوښښه لاس وا نه خېست او و يې ويل: ما ته قلم او کاغذ راوړئ، چې تاسې ته داسې څه وليکم، چې تر ما وروسته بې لارې نشئ؛ خو په خواشينۍ سره بايد ووايم، چې په دې وخت کې دويم خليفه وويل: دا سړی د ناروغۍ له امله پرتې وايي !![2]

---

[1] بحارالانوار ۲۲/ ۴۰۴
[2] بحارالانوار ۳۰/ ۴۶٦

هغه د الله جل جلاله رسول، چې الله جل جلاله يې په هکله وايي:
وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى. إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى [1]= او هغه د ځاني غوښتنو له مخې نه غږيږي. (بلکې) خبرې يې يوازې وحې ده، چې ورته وحې کيږي.

[1] نجم/۳، ۴

## ولې د پېغمبر (ص) هڅو پایله نه درلوده؟

پوښتنه: د پېغمبر (ص) د ټولو هلو ځلو او د حضرت علي له ورېتیا سره، ولې خلکو ورته د یوې مودې لپاره شا کړه ؟

لومړی دا، چې د الله جل جلاله له حکمه سرغړونه څه نوی خبره نه ده، خو ابلیس څه د الله جل جلاله په حکم ادم ته سجده وکړه، خو د موسی امت د دې له امله بې لارې نشو، چې حضرت موسی (ع) یې څو ورځې ونه لید؟ د قرآن شریف دومره آیتونو موږ ایمان، تقوی، صالح عمل، پر ژمنه او امانت کې وفا او امانتوالی ته رابللي یو؛ نو ولې بیا هم ایمان، تقوی او نېکو کړونو خاوندان لږ دي؟

دویم دا، چې کومې پخوانۍ کینې، چې د ځینو په زړونو کې حضرت علي ته وې؛ نو اجازه یې ور نه کړه، چې خلک په حضرت علي پسې ولاړ شي؛ ځکه د دوی خپلوان حضرت علي د بدر، احد، خېبر او حنین په جګړو کې وژلي ول.

دریم دا، چې خلکو امام پېژانده او له عادلانه چلنه یې خبر ول؛ نو د خپلو ګټو په خاطر یې د امام امامت ونه منه او ځینو په

پیل کې د امام امامت ومانه؛ خو په لار کې ترې بېل شول، خلکو چې درېم خلیفه وواژه او ورپسې را پاڅېدل؛ نوله امام سره یو ځای شول او بیا یې ژمنه ماته کړه او د جمل جګړه یې رامنځ ته کړه؛ ځکه هغوی له امامه د ټولنیز، سیاسي او اقتصادي امتیازاتو تمه درلوده؛ خو امام د بیت المال په ساتنه کې ډېر سخت دریځ و او حاضر نشو د چا غیر عادلانه غوښتنو او خبرو ته غوږ شي.

## د حق پلي کولو ته هڅې او چېغی وهل

پردې سربېره، چې حضرت رسول (ص) خلکو ته خپل ځایناسې ور وپېژانده، په خپله حضرت علي به هم د خپل حقانیت په هکله خلکو ته خبرې کولې. د ساری په توګه د هغه سړي په ځواب کې یې چې "ولې دومره د حکومت لاس ته راوړو ته حریص یې ؟ وویل: ((انّما طلبتُ حقّاً لی- زه په حقه خپل حق غواړم. )) [1]

[1] نهج‌البلاغه ۱۷۲خطبه

په بل ځای کې وايي: ((أرى تُراثى نَهباً - خپل ميراث لوټ شوی وینم. )) [1] او په بل ځای کې وايي: (( لقد علمتم أنّى أحقّ الناس بها من غيرى - تاسې په خپله پوهېږئ، چې زه د خلافت لپاره تر ټولو وړ یم. ))[2]. او همداسې وايي: ((انّ مَحلّى منها مَحلُّ القطب من الرّحى - په خلافت او حکومت کې زما ځای د ژرندې د تیگې په منځ کې لاسکې ته ورته دی. )) [3]

[1] نهج البلاغه ۳ مه خطبه

[2] نهج البلاغه ۷۴مه خطبه

[3] نهج البلاغه ۳ مه خطبه

# د امام ځانګړنې

## عصمت

عصمت؛ يعنې يوازې دا نه چې انسان ګناه نه کوي؛ بلکې د ګناه په فکر کې هم نه وي. موږ د ځينو ګناهونو په اړه عصمت لرو؛ ځکه چې تر اوسه مو هغه ګناه نه ده کړې او په هکله يې مو فکرهم نه دی کړی؛ لکه له کوره بهر لوڅ وتل، ځان وژنه او يا د نورو وژل؛ لکه څنګه چې موږ د ډېرو ګناهونو له ناوړو پايلو خبر يو او کله هم ان په فکر کې يې هم نه يو؛ نو امام هم د خپلې پوهې او يقين له امله د ګناهونو پر ناوړو پايلو پر ګناه لاس نه پورې کوي.

له ګناه او تېروتنې د امام د عصمت ضرورت ځکه دی، چې موږ پخپله تېر وځو او ګناه کوو؛ نو معصوم امام ته اړتيا لرو، چې ورته مراجعه وکړو، حقيقت وپېژنو او ځان وژغورو؛ ځکه هغه نه بايد تېروتونکی وي.

پوښتنه: که امام معصوم وي؛ نو د امامانو دا دومره عبادتونه، ژړاګانې او دعاګانې د څه لپاره دي؟

ځواب: که په تپه تیاره کې یوې ستر ګودام ته ورشئ او په لاس کې مو یوازې یو وړوکې څراغ وي؛ نو تاسې به ستر شیزونه ډېر په اسانۍ سره ووینئ؛ خو د رڼا د لږوالي له امله به واړه شیزونه ونه وینئ او که ستر څراغ مو په لاس کې وي؛ نو ان پر ځمکه ډېر واړه شیزونه به هم وینئ؛ نو دهغوی چې د ایمان رڼا لږه وي یوازې ستر ګناهونه ورته ښکاري او ډېرې نورې نه وینئ او یا به ورته ارزښت نه ورکوئ؛ خو چې د ایمان د قوي رڼا خاوندان وي، ځان د الله جل جلاله په محضر کې ویني؛ نو په ظاهره بې ارزښته شیزونه هم ویني او د امامانو دا دومره عبادتونه او دعا ګانې هم ددې لپاره وې، چې د ایمان رڼا یې خورا ډېره وه او ځانونه یې د الله جل جلاله تر څارنې لاندې لیدل؛ نو ان دنیوي عادي چارې چې ګناه هم نه وه؛ خو د غفلت لامل به وو، ورته به ګناه وه او د هغې لپاره به یې ژړاګانې کولې.

# پراخه سینه

د امام سینه باید پراخه وي؛ ځکه د ټولنې مشري او لارښوونه له تنگۍ سینې سره اړخ نه لگوي. حضرت علي وایي: ریاست ته ستر روح پکار دی (٤٥).

یو شامي سړي د امام حسن سپکاوی وکړ؛ خو هغه مبارک بې له دې، چې تندی تریو کړي او یا دا چې ترې خپه شي، ورته یې وویل: ته د څه لپاره خپه یې ؟که د څه اړتیا لرې، چې در یې کړم او دومره ښېگڼه یې ورسره وکړه، چې شامي سړی خپجله شو او ورته یې وویل: الله جل جلاله په خپله ښه پوهېږي، چې څوک د ټولنې او خلکو مشر کړي.

د امامانو په پراخه سینه ان له دښمن سره په مخامخ کېدو کې تاریخ ستر گواه دی.

# عدالت

عدالت غوښتنه د ټولو انسانو په خټه کې اغږل شوې ده او امام باید د عدالت بېلگه وي.

۱ـحضرت علي په یو لیک کې یو والي ته ولیکل: پر الله جل جلاله قسم که خبر شوم، چې په بیت المال کې دې لږ یا ډېر خیانت کړی؛ نو دومره سخت چلن به درسره وکړم، چې د سر ویښتان دې توی شي، ملا دې ماته شي او خپل ټولنیز اعتبار له لاسه ورکړې.[1]

۲ـ د حضرت علي له خوا په مصر کې ټاکل شوي والي، مالک اشتر ته حکم کوي، چې حکومت ته د هېواد تر ټولو لرې او نږدې سیمې باید یو شانت وي او یو برابر برخې یې ورکړل شي.[2]

## له ځاني غوښتنو ډډه کول

حضرت علي وايي: ((هیهات ان یغلبنی هوای - ډېره لیرې خبره ده، چې ځان غوښتنې راباندې بر لاس شي او د حق له بهیر او عدالته مې کوږ کړي. ))[3]

---

[1] نهج‌البلاغه ۲۰ لیک

[2] نهج‌البلاغه ۵۳ لیک

[3] نهج‌البلاغه ۴۵ لیک

حضرت علي وايي، چې د امامت په شرايطو کې يو هم دا دی، چې ځان به په مادي او دنيوي مسايلو نه بوختوي[۱]. ((لا يلهو بشیء من امر الدنيا ))

## ميړانه

حضرت علي وايي: ((و ما اُهدّدُ بالحرب - تر اوسه يوې جګړې هم نه يم وېرولې او زما پر اروا يې اغېز نه ده کړی.)) [۲].
حضرت علي وايي: امام بايد تر ټولو ميړنې وي. [۳] او په يو بل حديث کې راغلي دي: امام بايد ډارن نه وي. [٤]؛ بلکې د مړينې او شهادت خبره بايد ورته هواره شوې وي. حضرت علي وايي: په الله جل جلاله قسم، چې له مرګ سره داسې مينه لرم؛ لکه ماشوم يې، چې د خپلې مور له تي سره لري[۵].

---

[۱] بحارالانوار۲۵/ ۱٦۴
[۲] نهج‌البلاغه ۲۲ مه خطبه
[۳] بحارالانوار ۲۵/ ۱٦۵
[٤] بحارالانوار ۲۵/ ۱۷۲
[۵] نهج‌البلاغه ۵ مه خطبه

## فضیلت او نېکه سابقه

حضرت علي په يو ليک کې معاويه بن ابوسفيان ته وايي: معاويه !ستا له سياست او واکمنۍ سره څه کار دی ؟ ته خو نه ښه سابقه لرې او نه کوم ستر فضيلت او شرف.

هو! امام بايد کوچنۍ ناوړه سابقه هم و نه لري .

## د حکم بنسټ يې د الله جل جلاله کتاب وي

امام حسين وايي: ((فلعمری ما الامام الاّ الحاکم بالکتاب - پر خپل ځان مې قسم، چې هغه امام نه دی، چې د حکم بنسټ يې د الله جل جلاله کتاب نه وي. )) او بيا وايي: ((الدائن بدين الحق الحابس نفسه علی ذلك - امام بايد د حق پر دين اعتقاد ولري او پر خپلو هوسونو بر لاسی وي. ))[1]

---

[1] بحارالانوار ۴۴/ ۳۳۴

## عطوفت او سیاست

په یو روایت کې راغلي: امام پر خلکو د هغوی تر مورو پلار مهربان دی او په تدبیر د ټولنې چارې سمبالوي او دا ستر الهي مسئولیت په ښه توګه ترسره کوي، چې په هره ژبه له خلکو سره خبره وکړي.[1]

## زهد او سادګي

د امام یوه ځانګړنه دا ده، چې دنیا یې پر ځان نشي بوختولای او زاهد وي.
حضرت علي وايي: ((واللّه ما کانت لی فی الخلافة رغبة - په الله جل جلاله قسم !زه له خلافت سره مینه نه لرم. ))[2] او د خپلو پېوندي جامو په هکله وايي: ((واللّه لقد رَقَّعتُ مدرعتی هذه حتی استَحیَیتُ من راقعها - په الله جل جلاله قسم ! دومره

[1] کافی ۱/ ۲۰۱
[2] نهج‌البلاغه ۲۰۵ خطبه

مې په دې جامو کې پېوند اچولی، چې نور يې له پېوند اچوونکي شرمېږم، چې ورته ورشم. ))[1]
په بل ځای کې وايي: ((انّ اللّه فَرَض على ائمة العدل ان يُقدّروا انفسهم بِضعَفَةِ الناس - الله جل جلاله واجب کړي، چې پر حق عادل امامان، ساده ژوند ولري، چې د ټولنې له بېوزليو سره اوږه په اوږه وي او لدې لارې زړونه يې ټکور شي. ))[2]

## حق پلوی او پلي کوونکی يې وي

حضرت علي وايي: ((ما شَككتُ فی الحق مذ اُريتُه - له هغه وخته، چې حق را پېژندل شوی؛ نو تر اوسه پورې راته شک او ترديد نه دی پيدا شوی. ))[3] او همداراز وايي: تر اوسه پورې نه پخپله بې لارې شوی يم او نه مې څوک بې لارې کړي دي.[4] ((و لا ضَللتُ و لا ضُلَّ بی))

---

[1] نهج‌البلاغه ۱٦٠ خطبه
[2] نهج‌البلاغه ۲٠۵ خطبه
[3] نهج‌البلاغه ۱۸۴ حکمت
[4] نهج‌البلاغه ۱۸۵ حکمت

## د حق په پلي کولو کې پرېکندتوب

حضرت علي وايي: زه له هغه قومه يم، چې د ملامتو ملامتيا پرې اغېز نه کوي. [1] ((وانىّ لَمِن قوم لا تاخذهم فى اللّه لومة لائم))

## په کارونو کې مخکښي

حضرت علي وايي: ((مَن نَصب نفسه للناس اماماً فليبدء بتعليم نفسه قبل تعليم غيره وليكن تأديبه بسيرته قبل تأديبه بلسانه - څوک چې د خلکو امام شي بايد، له ځانه يې پيل کړي مخکې تردې چې خلک د ژبې له لارې وروزي، پخپله د عمل بېلگه وي، چې روزنيز دود يې خپل کړه وي. )) [2]

---

[1] نهج البلاغه ۱۹۲خطبه

[2] نهج البلاغه ۷۳ حکمت

## بې تکلفه وي

الله جل جلاله خپل رسول (ص) ته وايي: خلکو ته ووايه: ((أَنَا مِنَ الْمُتَكَلِّفِينَ))[1]

د تکلف نښه دا ده، چې انسان د ورک نومو انسانو بلنه نه مني او د خپلو تېروتنو ښښنه نه غواړي او په څه، چې نه پوهېږي؛ نو دا مېړانه پکې نه وي، چې ووايي، چې نه پوهېږم او په کوم ځای کې، چې پکار وي، له خلکو سره مشوره وکړي؛ نو مشوره نه کوي؛ خو امام تکلف نه لري او تر ټول متواضع او عاجز دی. خلکو چې د حضرت علي ښه راغلاست ته منډې وهلې؛ نو حضرت علي له دې کاره منع کړل داسې کله هم ونشول، چې څوک به په پښو روان وو او د الله جل جلاله رسول به سپور و.

## له خلکو سره گوزاره

اسماني مشر د خلکو لارښوونې ته باید له خلکو سره گوزار وکړي؛ خو مداهنه و نه کړي. گوزاره کول د دین یا د خلکو

[1] ص/٨٦

اصلاح ته له خپل مقام او دنیا تیرېدل دي؛ خو مداهنه د خپل مقام او موقعیت ساتلو ته د دین او ښوونځي له ځینو حکمونو تیرېدل دي.
گوزاره؛ یعنې کم ظرفیته، ځیلي او د غلط پوه شوي انسان بښل، چې ښوونځي ته را جذب شي؛ خو مداهنه؛ یعنې د خپل مقام ساتلو ته له هر چا سره جوړجاړی کول. د گوزارې بنسټ پراخه سینه ده؛ خو د مداهنې بنسټ ضعف او خپلو گټو ته رسېدل دي. امام باید د گوزارې، بښنې او پراخې سینې خاوند وي، څو هغوی، چې په هر دلیل، ضعیف وي، له امامه له لاروۍ نهیلي نشي او امام باید د حضرت یوسف په څېر وي، چې د وروڼو تر پښېمانۍ وروسته یې و نه رټل او ورته یې وویل: ((لاَ تَثْرَیبَ عَلَیْکُمُ الْیَوْمَ))[1] امام هم باید وکړای شي، چې په ورین تندي، مینې او محبت خلک اسلام ته را مات کړي.
د الله جل جلاله رسول (ص) وویل: ((بعثتُ بمداراة الناس - زه مبعوث شوی یم، چې له خلکو سره گوزاره وکړم. [2]))

---

[1] یوسف/۹۲

[2] نهج‌الفصاحة ۱۰۹۳ حدیث

همداراز انحضرت (ص) وايي: ((انّ اللّه امرنی بمداراة الناس کما امرنی باقامة الفرائض - الله جل جلاله مې را ته امر کړی، چې له خلکو سره گوزاره وکړم، لکه څرنگه يې، چې راته امر کړی، چې واجبات او فرض لمونځونه ترسره کړم. ))[1] په بل ځای کې انحضرت (ص) وايي: ((انّا معاشر الانبياء اُمرنا ان نکلّم الناس على قدر عقولهم - موږ پيغمبران دنده لرو، چې له خلکو سره دهغوی د عقل او پوهې سره سم خبرې وکړ. ))[2]

## د تېرو له تاريخه خبر وي

حضرت علي خپل زوی امام حسن ته وايي: زويه ! که څه هم ما له پخوانيو سره عمر نه دی کړی؛ خو د هغوی د ژوند په هکله مې فکر کړی او دهغوی په تاريخ کې داسې گرځېدلی يم، ته به وا، چې له ورسره مې ژوند کړی دی.[3]

[1] نهج‌الفصاحة ٦٧٧ حديث

[2] کافی ١/ ٢٣

[3] نهج‌البلاغه ٣١ ليک

## د خلکو د ستونزو هوارول

حضرت علي د خپلو واليانو او مامورانو پر کارونو کلکه څارنه درلوده او د خلکو شکايتونه او ګيلې يې منلې او که له چا به شکايت شوی و؛ نو راغوښته يې او پوښتنه به يې او همداسې د هغوی مالي حساب ته به يې پام و او تل به يې خپلو استازيو ته ويل: خپل حساب او مالي کړه مو راوړئ او راته يې وښيه.[1]

## صبر او پر الله جل جلاله ايمان

د امام بله ځانګړنه د حق په لار کې زغم او سم باور دی.
قرآن شريف وايي: [ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا وَكَانُوا بِآيَاتِنَا يُوقِنُونَ [2] = او له هغوی مو يو شمېر(په خپل دين کې) د زغم او زموږ پر آيتونو د باور له امله لارښوونکي کړل، چې زموږ په حکم به يې ( خلکو ته ) لارښوونه کوله ].
يقين د عصمت سر چينه او دټولو معنويوکمالاتو بنسټ دی.

---

[1] نهج البلاغه ۴۰ ليک
[2] سجده/۲۴

## ماديات يې پر ځان بوخت نه کړي او اخلاص ولري

حضرت علي په يو ليک کې د اذربايجان والي ته ليکي: ستا مقام له تاسره امانت او مسئوليت دی، نه د کسب، کار، رفاه او جيب ډکولو وسيله.

قرآن شريف د انبياوو يو امتياز د هغوی بې توقعي گڼي، چې د خپلو زحمتونو اجر يوازې له الله جل جلاله غواړي او له خلکو يې هيڅ ماديه- مادي تمه نه درلوده؛ لکه څنگه، چې د شعرا [1] په سورت کې له حضرت نوح، هود، صالح، شعيب او لوط (عليهم السلام) را نقلوي، چې ويلي يې دي: ((إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ))؛ يعنې مونږ يوازې له خپل پالونکي اجر غواړو.

---

[1] شعراء له ۱۰۹ څخه تر ۱۸۰ پورې آيتونه

## په پوهه او وړتیا کې تر ټولو وړ وي

امام باید تر ټولو لایق او پوه وي. حضرت علي وايي: امامت او مشرۍ ته تر ټولو وړ انسان هغه دی، چې د ټولو خلکو په پرتله هم لایق، هم قوي او هم د الله جل جلاله پر حکمونو تر ټولو ډېر خبر وي او یوازې هغه کړای شي، چې د مشرۍ بېرغ اوچت کړي، چې د لیدانې- بصیرت، پایدارۍ او پوهې خاوند وي.[۱]

قرآن شریف وايي:

قُلْ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ قُلِ اللّهُ يَهْدِي لِلْحَقِّ أَفَمَن يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ أَحَقُّ أَن يُتَّبَعَ أَمَّن لاَّ يَهِدِّي إِلاَّ أَن يُهْدَى فَمَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ[۲] = (ورته) ووایه: (( ایا ستاسې په معبودانو کې څوك شته، چې د حق لوري ته لار وښيي؟!)) ووایه: (( (یوازې) " الله " د حق لوري ته لار ښيي، ایا څوك چې د حق لوري ته لار ښيي، د لا روۍ وړ دی یا هغه چې په

---

[۱] نهج البلاغه ۱۷۳ خطبه

[۲] یونس /۳۵

خپله لار نه مومي؛ خو داچې لار ورته وښوول شي ؟!؛ نو پر تاسې څه شوي دي، څرنگه پرېکړې کوئ ؟ ))

## له امتیاز غوښتنې ځان وژغوري

امام په ټولنیزو حقوقو کې ځان له نورو سره مساوي گڼي. حضرت علي وایي: ((انّما أنا رجل منکم لی ما لکم و علیّ ما علیکم- زه هم ستاسې په څېر او له تاسې یم؛ نوهر څه، چې ستاسې لپاره دي، زما لپاره هم دي او هر څه، چې تاسې ته در پر غاړه دي، ما ته هم را پر غاړه دي. ))[1]

## د اسلام د گټو ساتل؛ نه د خپلو گټو

سره له دې، چې حضرت علي یې له خپل مسلم حق بې برخې کړ او له مشرۍ یې گوښه کړ؛ خو هغه صبر وکړ او و یې ویل: که د مسلمانانو چارې په سمه توگه ترسره کیږي؛ نو زه څه نه

[1] شرح نهج البلاغه ۷/ ۳٦

وایم. [1] په الله جل جلاله قسم ! که د مسلمانانو له خپرېدو مې وېره نه وه؛ نو بله لار به مې غوره کړې وای او پر وسله وال قیام به مې خپل حق تر لاسه کړی و. [2]

ابن عباس حضرت علي ته وویل: د حضرت عثمان (رض) په شپږ کسیزه شورا کې ګډون مه کوه؛ ځکه پروګرام یې داسې جوړ کړی، چې ګوښه مو کړي. امام ورته وویل: ځکه ورځم، چې رابللی یم؛ ځکه، زه له خلاف او تخلفه بېزار یم او نه غواړم، چې شورا زما له امله جوړه نشي.

---

[1] سیری در نهج‌البلاغه ۱۸۲ مخ

[2] نهج البلاغه ۱۱۹ خطبه

# د امام ټاکنه

په ننني ټولنو کې د مشر ټاکنه د ټولټاکنو له لارې ترسره کېږي؛ خو ټول په دې ښه خبر دي، چې ټولټاکنې د حل لار نه ده او په هر ځای کې د حق لار هم نه ده. هېڅ برهان، علمي او عقلي دليل، د انتخاب شوي وګړي لياقت، صلاحيت او حقانيت نه تاييدوي که څه هم په عمل کې د ډېری وګړيو رای په پام کې نيول کېږي، چې ترټولو غوره لار ده او پردې سربېره، چې د اکثريت رای ته پام يوازې په ټولنيزو چارو کې ده او په اعتقادي مسئلو کې د اکثريت رای هېڅ ارزښت نه لري او که داسې وای؛ نو د الله جل جلاله رسول (ص) به له خپل دعوته لاس اخسته او د اکثريت تابع کېده به، چې مشرک او کافر وو؛ لکه څنګه چې د انعام په سورت کې لولو:

وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللّهِ إِن يَتَّبِعُونَ إِلاَّ الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلاَّ يَخْرُصُونَ[1] = ((او که ته د ځمکې پرمخ د ډېری خلکو خبرې ومنې (؛ نو) د الله جل جلاله له لارې به

---

[1] انعام/۱۱٦

دې بې لارې کړي (؛ ځکه) هغوی يوازې په (خپلو) گومانو پسې ځي او يوازې اټکليان دي. ))
نو د امامت په حساسه مسله کې، چې يوه اعتقادي خبره ده د خلکو ټاکنه او رای هېڅ ارزښت نه لري او د امام ټاکل د الله جل جلاله له لوري دي.
البته له امام سره د خلکو بيعت د حکومت د بنسټ د غښتلي کېدو لامل گرځي، نه دا، چې امام د خلکو په رای امام شي او د خلکو په شا کولو له امامته گوښه شي.
حضرت علي په ۲۵ کلنې په کور ناستی کې هم امام و؛ خو د حاکميت د چلولو امکان يې نه درلود.

## امام يوازې الله جل جلاله ټاکي

وروسته تر دې، چې الله جل جلالهحضرت ابراهيم پر ډول ډول پېښو؛ لکه له مال، ځان او اولاده پر تېرېدو و ازمايه او په دې ازموينه کې بريالی هم شو؛ نو الله جل جلاله ورته د امامت او مشرۍ مقام ورکړ. په فرمان کې راغلي وو: ((إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا))[1]؛ يعنې ته مې د خلکو لپاره امام وټاکلې.

[1] بقره/۱۲۴

په دې فرمان کې له ((إِنِيِّ جَاعِلُكَ)) څخه کار اخستل شوی دی، چې د امام ټاکنه باید د الله جل جلاله له لورې وي؛ ځکه امام باید یو لړ شرطونه او ځانګړنې ولري، چې بې له خدایه (ج) ترې څوک خبر نه دي؛ لکه: امام باید پر هستۍ او انسان باندې له ټولو واکمنو قوانینو خبر وي. امام باید دهغه لارې له حتمي پایلو خبر وي، چې غوره کړي یې ده. امام باید پخپله مشرۍ کې خپلو ګټو ته پام و نه کړي او دنننې او بهرنې مسایل یې راپارونکي نه وي. امام باید له ټولو انساني کراماتو په لوړه کچه برخمن وي او دا خو ښکاره خبره ده، چې دا ځانګړنې په معمولي انسان کې نه موندل کېږي او خلک هم د وګړیو په وجود کې له دې ځانګړنو بې خبره دي.

آیت الله شهید صدر د څو سرېزو تر بیانولو وروسته پایله اخلي، چې د امام ټاکنه باید یوازې د انتصاب له لارې وي او د الله جل جلاله او رسول له لارې یې وي، او هغه سرېزې دا دي:

الف: پیغمبر (ص) د یو ستر هر اړخیز عقیدتي او فکري انقلاب مشر و او جاهلي نظام یې پر انساني نظام د تل لپاره بدل کړ.

ب: **۲۳** کاله رسالت هغه هم هغه مهال، چې مسلمانان په مکه کې هغسې سره اور ته نیول شوي ول او په مدینه کې پرې ډول ډول جګړې ور وتپل شوې، چې دا **۲۳** کاله دې دومره بدلونو ته لږ وخت دی.

ج: د الله جل جلاله رسول ناڅاپه له دنیا سترګې پټې نه کړې، چې ووایو د امامت د مسلې څېړلو، بیانولو او تداوم ته یې وخت نه درلود او د خپل ځایناستې ټاکلو ته یې وخت ګوتو ته را نه غی.

لنډه دا، چې **۲۳** کاله د دې دومره بدلون لپاره لږ دي او د الله جل جلاله تر استازې وروسته کار باید دوام موندلی وای او د کار تدوام ته څو طرح او نظرونه دي، چې باید رڼا پرې واچوم

۱ـحضرت رسول (ص) د خپلې ځایناستۍ په فکر کې نه و او د انقلاب د تدوام په فکر کې هم نه و او خلک یې همداسې سر ایله خوشې کړل او له دې دنیا یې سترګې پټې کړی.

دا خبره ځکه د منلو وړ نه ده، چې:

یو عادي انسان هم حاضر نه دی، څه ته یې، چې دومره سختۍ او زحمتونه ګاللي وي، همداسې یې خوشي کړي او بل چا ته یې و نه سپاري هغه هم له هغومره زحمت او زړه سواني سره، چې قرآن شریف د الله جل جلاله د رسول (ص) لپاره

بيانوي تر دي، چې وايي: (( حَرِيصٌ عَلَيْكُم ))[1]؛ يعنې پېغمبر (ص) ستاسې لپاره سوځي او لارښوونې ته موحرص کوي.
او په بل ځای کې وايي: (( لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ ))[2] يعنې تا به دا خپگان ووژني، چې خلک ولې ايمان نه راوړي.
نو تاسې په خپله ووياست، چې داسې انسان، چې د خلکو له لارښوونې سره داسې مينه لري؛ نو حاضر به شي خلک همداسې په خپل حال پرېږدي ؟
حضرت رسول (ص)، چې د تبوک جگړې ته تله؛ نو په مدينه کې يې خپل ځايناستې وټاکه چې هغه د ۸۰ ورځو لپاره و؛ نو تر ځان وروسته به يې فکر نه و کړی؟
آيا لومړی خليفه حاضر شو، چې خلک همداسې پرېږدي او خلافت دويم خليفه ته ونه سپاري؟
آيا دا د منلو خبره ده، چې لومړی خليفه تر ځان وروسته د مسلمانانو په فکر کې وي او د الله جل جلاله رسول نه وي ؟

---

[1] توبه /۱۲۸

[2] کهف /٦

۲_دویم نظر دا دی، چې د الله جل جلاله رسول له دې دنیا سترګې پټې کړې او تر ځان وروسته یې د امت مشري د شورى پر غاړه کړه.
که داسې هم وي؛ نو ولې لومړي خلیفه د الله جل جلاله د رسول (ص) په څېر کار شورا ته و نه سپاره او دویم خلیفه یې په خپله وټاکه او پخپله یې خلافت حضرت عمر ته ورکړ؟
او ولې دویم خلیفه هم ټولټاکنې و نه کړې او یو شپږ کسیزه شورا یې جوړه کړه هغه هم هغه شورا، چې عملاً دیکتاتوري بڼه یې درلوده؛ ځکه، دویم خلیفه شرط ایښې و، چې خلیفه به هغه وي، چې عبدالرحمن بن عوف یې پلوې وي ؟
دا لا څنګه شورا ده، چې پکې یو تن د وتو او رد حق ولري او دهغه ډلې خبره به منل کیږي، چې عبدالرحمن بن عوف پکې وي؛ نو دا شورا ده که دیکتاتوري؟
د دویمې نظریې په پام کې نیول سره د غدیر خم مسله د څه لپاره ده ؟
۳_ اوس، چې دویمه او ړومبۍ نظریه د منلو وړ نه ده؛ نو یوازې یوه لار پاتې ده، چې په خپله د الله جل جلاله رسول خپل ځایناستې پخپله وټاکي، چې ترټولو هم پوه دی هم زړه سواند او هم خبره یې د وحې پر بنسټ ده او هغه پخپله پوه

دی، چې د ټولنې ودې او ادارې ته څوک تر ټولوغوره دی، چې د الله جل جلاله رسول (ص) همداسې وکړل او په غدیر خم کې یې حضرت علي خپل ځایناستې وټاکه.

## الهي انتصاب د حق لار ده

د امام په ټاکلو کې حق لار هماغه د الله جل جلاله د رسول (ص) لار ده؛ ځکه موږ امام د پیغمبر (ص) په څېر، امامت د نبوت په څېر او نبوت او امامت ته د ضرورت دلیل یو ګڼو د امام کار هم د پیغمبر (ص) په څېر د خلکو ښیون او تلپاتې نېکمرغۍ ته رسول دي؛ نوهماغه آیت، چې د نبوت په برخه کې مو راوړ، دلته هم ترې ګټه اخلو، چې قرآن شریف وایي: ((إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَى[1] = په یقین چې لارښوونه یوازې زموږ(پرغاړه) ده، ))
لکه څنګه، چې پیغمبر(ص) د الله جل جلاله له لوري ټاکل کېږي او د قرآن شریف آیتونو دې حقیقت تا اشاره

[1] لیل/۱۲

هم کړی (۸٤)؛ نود امام کارهم، چې د خلکو ښیون دی او الهي ژمنه ده، باید د الله جل جلاله له لوري وي.

## د ابو علي سینا وینا

ابوعلي سینا وایي: امام باید معصوم وي او له لوړو صفتونو برخمن وي او له دې ځانګړنو برخمنېدل داسې خبره نه ده، چې عادي انسان یې و پېژني او تشخیص یې کړي او که پر څه پوه هم شي؛ نو ډېر نیمګړی دي او یوازې د علایمو او اثارو له لارې یې پېژندلای شي؛ ځکه په خپله عالم، مدبر او قادر الله جل جلاله باید امام وټاکي؛ ځکه یوازې هغه دی، چې هم د خلکو له زړونو خبر دی او هم له غیبو او هم د واقعي نېکمرغۍ لار پېژني او د هستۍ د تدبیر چارې یې په لاس کې دي.

## پوښتنه او ځواب

له دې برخې ستاسې مطلب دا وه، چې د امام ټاکل باید دالله جل جلاله له لوري وي او ټولټاکنې ځکه ارزښت نه لري، چې

له رازونو خبر نلري او علمي پوهه پکې خورا لږه ده او هم يو نابرياليۍ تجربه ده؛ نو ولې پخپله حضرت علي په نهج البلاغه کې مخالف ته خپله پګړۍ د خلکو د رای له امله جيګه ګڼي او وايي: د حضرت عثمان تر وژل کېدو وروسته خلک پر ما راټول شول او زه يې وټاکلم ؟

ځواب: حضرت د مخالفينو پر معيارونو خبرې کولې؛ يعنې تاسې، چې د خلکو د رای او ټاکنو خبرې کوئ؛ نوهمدا خلک وو، چې زه يې وټاکلم؛ نونن ولې په ما پسې را پاڅېدلي ياست؟

## د اهل بېتو فضايلو ته لنډه کتنه

امام او د قدر په شپه کې د پرښتو راکېوتل

هغه روايت، چې د قدر د سورت تر تفسير لاندې نقل شوی گټه ترې اخستل کېږي، چې د قدر په شپه د پرښتو را کېوتل يوازې د الله جل جلاله د رسول (ص) په وخت پورې ځانگړې نه دي؛ بلکې دا کار هر کال ترسره کېږي. ((تَنَزَّلُ الْمَلاَئِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ[1] = په هغه (شپه) کې پرښتې او "روح" دخپل پالونکي په اجازه دهرکار (دتقدير او اندازه کولو) لپاره راکوزېږي. ))

په دې کې هېڅ شک نشته، چې د پېغمبر(ص) په ژوند کې به پرښتې ورته راتلې؛ نو ترهغه وروسته به پرښتې چا ته راځي؟

ښکاره خبره ده، چې پرښتې به هغه ته راځي، چې په کمالاتو کې تر ټولو الله جل جلاله او رسول ته يې نږدې وي.[2]

نو ددې روايت په رڼا کې هم د امامت پر مقام رڼا واچول شوه او د ژوندي معصوم د شتون دليل روښانه شو، چې په هر

[1] قدر/۴

[2] کافی ۱/ ۲۴۹

وخت کې د پرښتو د راتگ تم ځای وي، چې پخپله دا خبره ډېر ستر فضیلت دی.

## د امام او امت حقوق

دا چې امام او امت پر یو بل څه حقوق لري، په دې هکله ډېر روایتونه شته، چې موږ یې څو ته اشاره کوو:
*حضرت علي خلکو ته وویل: موږ او تاسې پر یو بل یو لړ حقونه لرو، چې زما حق پر تاسې دا دی:
۱_پر خپله ژمنه او بیعت وفا وکړئ.
۲_زما په شتون او نه شتون کې نصیحت کوونکي او ښېگڼه کوونکي یاست.
۳_ څه چې درنه غواړم راسره یې ومنئ[۱].
او تاسې پر ما دا حقونه لرئ، چې:
۱_ستاسې ښېگڼه غوښتونکی او خواخوږی اوسم.
۲_بیت المال پر تاسې عادلانه ووېشم.
۳_ تاسې ته زده کړه وکړم چې نالوستي نشئ.

---

[۱] نهج‌البلاغه ۳۴ خطبه

او همداسې هغه خلکو ته وویل: هم تاسې پر ما حق لرئ؛ نو همغومره زه یې، پرتاسې لرم.[1]
امام سجاد د حقوقو د رسالې په پېل کې د امام حقوق تر ټولو واجب حقونه معرفي کړي دي: ((و اوجبها علیك حقّ ائمتك))[2]
حضرت علي به ويل: هغسې، چې له طاغوتیانو او جبارانو سره خبرې کوئ؛ نو له ما سره یې مه کوئ او ځانساتي- محافظه کاري او غوړه مالي مه کوئ او داسې فکر مه کوئ، چې خبرې به مو راته درنې وي او هر چېرته مو، چې حق او پر ځای مشوره ولیده؛ نوحتماً ترې ما خبر کړئ او که، الله جل جلاله مو ونه ساتي؛ نوموږ خو له تېروتنې خوندي نه یو.[3]
په یو روایت کې راغلي: چا چې د فقهاوو فتوی او قضاوت ونه مانه؛ نوداسې به وي؛ لکه چې زموږ خبره یې نه وي منلي او شرک یې کړی دی.[4]
په یو بل روایت کې وایو:

[1] نهج‌البلاغه ۲۱٦ خطبه
[2] تحف العقول ۲۵۵ مخ
[3] نهج البلاغه۲۱٦ خطبه
[4] کافی ۱/ ٦۷

که څوک شپې پر عبادتونو او ورځې په روژو تېرې کړي او خپله ټوله شتمني د الله جل جلاله په لار کې ورکړي او هر کال حج وکړي؛ خو د الله جل جلاله ولي ونه پېژني او خپل کارونه د هغه تر مشرۍ لاندې و نه کړي؛ نو پر الله جل جلاله هېڅ حق نه لري او د ایمان خاوند نه دی.[1]

## د امت دنده

د روایتونو په رڼا کې خلک د امام پر وړاندې درې دندې لري:
۱_ د امام پېژندل، هغه هم له روښانه او غوره ځانګړنو سره، چې یو معصوم مشر یې باید ولري.
۲_ فرمانونو ته یې سینه په لاس ولاړ وي تردې، چې خبرې یې پر سر سترګو ومني.
۳_خپلې شخړې پرې هوارې کړي او قضاوت پرې وکړي.[2]

---

[1] صافی ۲/ ۱۸
[2] کافی ۱/ ۳۹۰

# امامت او حج

امام باقر د کعبې طواف کوونکيو ته ويل: له کعبې دا چورېدل تر اسلام مخکې هم وو او اسلام هم طواف او حج و ټاکه، چې په دې توګه د حج په لوري کې زموږ ښنګ ته راشئ او د ولايت، مينی او نصرت اعلام وکړئ بيا امام د ((رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ الصَّلاَةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ[1] = (( پالونکيه ! ما په يو بې اوبو او بې کښته ناو کې د خپل اولاد يوه برخه ستا د قدرمن کور تر ښنګ مېشت کړه، چې لمونځ وکړي؛ نو ته د يو شمېر خلکو زړونه ورته راواړوه او له محصولاتو څنې روزي ورکړه، ښايي چې هغوی ستا شکر وباسي. ))

بيا امام باقر د ((فاجعل افئدة من الناس تَهوی اليهم))[2] په استناد وويل: حضرت ابراهيم له الله جل جلاله څخه ونه غوښتل،

---

[1] ابراهيم/۳۷

[2] ابراهيم /۳۷

چې خلک کعبې ته رامات کړي؛ بلکې و یې وغوښتل، چې خلک یې ځوځات ته رامات کړي[1].
هو !د حج یوه فلسفه امام ته پاملرنه ده .

## له امام څخه د لاروی اغیزې

له یو بل سره (امام او امت) پر کړیو ژمنو عمل یو لړ اغیزې لري، چې حضرت علي داسې راښوولي دي:
۱_د مینو او ځواکونو بڼه نیول
۲_ ښوونځی له ډول اړونو خوندي پاتې کیږي.
۳_د دین لارې روښـانه او ځلیږي.
٤_د عدالت ستنې غښتلې کیږي.
٥_ حق غښتلی کیږی او د باطل ملا ماتیږي،
٦_هر څه په خپل ځای کې ترسره کیږي.
۷_د دښمن د نفوذ لار تړل کیږي او پلمه ورته نه پاتې کیږي. [2]

---

[1] کافی ۱/ ۳۱۱
[2] نهج‌البلاغه ۲۱۶ خطبه

# واقعي یاران

د خراسان یو سړي امام صادق ته د پاڅون وړاندیز وکړ او ورته یې وویل: تاسې سل زره وسلوال سر تیري لرئ.
امام د هغوی د وفادارۍ د ازمېښت لپاره وویل: له اوره ډک هغه تنور ته ورننوځه، سړي ښښنه وغوښته، په دې وخت کې د امام یو انډیوال هارون مکي ته راننوت او تر سلام وروسته امام ورته وویل: څپلۍ دې اوباسه او له اوره ډک په هغه تنور کې ورننوځه. هغه هم بې له کوم ځنډه دا کار وکړ او امام پر خبرو بوخت شو او د خراسان د اوضاع پوښتنې یې پیل کړې بیا امام خراساني ته مخ کړ او ورته یې وویل: ورشه او تنور ته سر ښکاره کړه؛ نو تنور ته ننوتې سړی یې چې روغ رمټ ومونډ؛ نو ورته یې وویل: داسې لارویان به څومره وي، چې هر څه ورته ووایو و یې مني او ټکې پکې را ونه باسي. و یې ویل: تنوري لارویان خو به نه وي[1].

---

[1] بحارالانوار ۴۷/ ۱۲۳

هو ! د خبرې او عمل ترمنځ خوار ډېر واټن وي. البته هغه تر ځان تېر ملګرى و نه سوځېد. (لکه ابراهيم خليل الله، چې په اور کې و نه سوځېد)

## دروغجن ياران

په حديث کې راغلي دي: هغه دورغ وايي، چې زه د علي لاروى يم؛ خو په عمل کې يې د بل په رسۍ منګولې لګوي[1].
په يو روايت کې راغلي: که له امويانو سره ملاتړي نه واى، چې حکومتي چارې يې ورته کړې واى ورته جنګېريد يلي نه واي؛ نو له موږه به يې زموږ حق نه و اخيستې[2].
هو !د امامت کمزوري د بې ارادې مينه والو د کمزورۍ له امله ده، هغوى چې له زړه له امام سره دي؛ خو د وېرې او يا مادياتو له امله د پرديو مزدوارن دي.

---

[1] وسائل ۲۷/ ۱۱۷
[2] بحارالانوار ۴۷/ ۳۸۳

## پر امامت د ظلم ډولونه

د امامت پر مسله او د امامانو پر ښوونځي او ریښتینو لاروېانو یې ډول ډول تیري شوي دي. نه پوهېږم، چې سلا به وي، چې وویل شي که نه لړلیکونو ته یې یوه لنډه کتنه لرو:

## اقتصادي تېري

د اهل بېتو د مالي ملا ماتونې لپاره یې د فدک ګټوره ځمکه ترې واخیسته او له اسلامي مالیاتو یې د ذی القربی او د اهل بیتو برخې لرې کړل.
تورونه یې پرې ولګول او تبلیغات یې ورپسې وکړل
پر امام یې ډول ډول تورونه ولګول او تبلیغات یې ورپسې کول او کار یې تر دې را ورساوه، چې د شام خلکو واورېدل حضرت علي د کوفې په جومات کې د سجدې پر حال ترور شوی دی؛ نو په حېرانتیا یې وویل: علي په جومات کې څه کول هغه لمونځ هم کاوه ؟ !!

## فکري تېرى

د (( حسبنا کتاب الله )) په شعار سره؛ یعنې قرآن شریف زموږ لپاره بس دی، د ډېرو حدیثونو مخه یې ونیوه امامان یې گوښه کړل او خلک یې د علم له اصلي سرچینې بې برخې کړل.

## دورغ جوړول

د حدیثونو د جعل کارخانه یې جوړه کړه او د امویانو د سترولو او د بني هاشمو ټکولو ته یې دومره جعلي حدیثونه جوړ کړل، چې ټولو ته یې لار خړه کړه، چې څوک حق او باطل ونه پېژني.

## تحریف او مخونه

د امامت په هکله د الله جل جلاله د رسول (ص) روښـانه او سپینې ویناوې یې تحریف او توجیه کړې او د مشرۍ مسیر یې داسې کوږ کړ، چې کار یې د یزید بن معاویه بن ابوسفیان حکومت ته راورساوه.

## فرهنګي ظلم

زه نه پوهیږم، چې د اهل سنتو ستر شخصیتونه چې د امام کاظم هم وخته و؛ نو ان یو حدیث یې هم له امام کاظم څخه نه دی روایت کړی ؟آیا امام ته ان د یو عادي راوي په سترګه هم لیدل نه دي په کار ؟
دا لا څنګه خبره ده، چې په صحیح بخاري کې له ځینو خوارجو حدیثونه روایت شوي؛ خو له امام جعفر صادق او نورو دولس ګونو امامانو حدیثونه نه دي روایت شوي ؟

## د پوه پر ځای ناپوه

یو داسې مشر ته یې شا کړه، چې تل به یې ویل: (( سلوني ))هر څه، چې غواړئ له ما یې وپوښتئ، چې ځواب یې درکړم او په هغه مشر پسې ولاړل، چې ویل به یې: (( اقیلوني ))؛ یعنې ما پرېږدئ، چې نه پوهیږم.
حضرت رسول (ص)، چې د علم ښار و پخپله یې ویلي و: علي زما د علم د ښار ور دی"؛ نو حضرت علي یې پرېښود او

په هغه پسې ولاړل، چې پخپله به ډېرو مسلو کې پاتې راتله او تل به یې ویل که علي نه و او لارښوونه یې راته نه وای کړې؛ نوهلاک شوی به وم.

## پلمې او کینې

په دې پلمه، چې حضرت علي ځوان دی، شوخ دی او د حنین، خیبر، احد او بدر له جګړو راهیسې ورته ډېر مسلمانان په زړونو کې کینې لري؛ نو دا د حضرت رسول(ص) د علم ور یې په کور کې ګوښه کړ تر دې، چې حضرت علي پخپله وویل: زه له همغې ورځې مظلوم وم[1].

سره له دې، چې ټول پوهېږي څومره حدیثونه، چې د حضرت علي د فضایلو په هکله روایت شوي، د حضرت رسول(ص) د بل یو صحابي په هکله هم نه دي روایت شوي؛ خو بیا یې هم د الله جل جلاله د رسول (ص) د علم د ښار ور ګوښه کړ !!!

تاسې په خپله وویاست، چې آیا ځواني عیب دی؟ هغه مهال، چې حضرت ابراهیم خلیل الله د توحید اتل شو او بوتان یې دړې وړې کړل؛ نو ځوان نه و؟ ((قَالُوا سَمانا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ

---

[1] بحارالانوار ۲۷/ ۲۰۹

لَهُ إِبْرَاهِيمُ [1] = (ځینو) وویل: (( مونږ له یوه زلمي د بوتانو (د مخالفت په اړه) خبره اورېدلې وه، چې ابراهيم يې بولي. )) ایا قرآن شريف د اصحاب کهف په هکله نه وايي: ((إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ))[2] هغوی هغه ځوانان دي، چې پر خپل پالونکي يې ايمان راووړ.

ايا حضرت يوسف ځوان نه و؟ ايا مصعب د حضرت رسول (ص) وړومبی مبلغ استازې ځوان نه و؟ ايا حضرت رسول(ص) د اسامه په نامه تنکې اتلس کلن ځوان دهغه ستر لښکر مشر نه کړ، چې ډېر سپين ږيري يې سر تيرې ول او دهغه په هکله يې وويل: د خدای (ج) لعنت دی پر هغه وي، چې د اسامه له لښکره سرغړونه وکړي. ايا يوازې سپينه ږيره مشرۍ ته شرط ده ؟! ايا امامت په کيلوگرامونو او مترونو دی؟! ايا قرآن شريف علم، تقوی، جهاد، هجرت، سابقه، اخلاص او ايمان د ارزښتونو معيار نه دی ټاکلی ؟

ولې يې د قرآن شريف د دې ازرښتونو پر وړاندې نور ارزښتونه مطرح کړل ؟

---

[1] انبیاء/٦٠

[2] کهف ١٣

هو! خبره يې، چې پلمه کړه دا وه، چې علي شوخ دی. تاسې په خپله وویاست هغوی، چې شوخان دي؛ نو لیاقت نه لري ؟ امامت علم، لید او عصمت غواړي. د دولس گونو امامانو عمرونو سره توپیر درلود، له چارو سره چلن او مسئولیت یې هم سره توپیر درلود؛ لکه څنگه، چې د الهي انبیاوو شرایطو هم سره توپیر درلود.

## د حق وژنې او تیري پراخوالی

پر دولس گونو امامانو تېری د حضرت رسول (ص) له دنیا څخه د سترگو له پټولو سره سم پیل شو. هغه مهال، چې پیغمبر(ص) د ژوند په وروستیو شېبو کې و یې ویل: "چې قلم او کاغذ راوړئ" او دهغه سپکاوی یې وکړ او دې مظلومیت همداسې دوام وموند تر دې، چې حضرت علي (ک) د سجدې پر حال د روژې په میاشت کې پر سر په توره ووهل شو؛ نو چیغې یې کړې: (( فزت و رب الکعبة )) د کعبې پر الله جل جلالهقسم، چې رستگار شوم. (۱۰۲)
پر امامانو هم له بهره تیري کېدل او د کور له اړخه د نا اهلو مېرمنو له اړخه هم، کله هم الله جل جلاله ته د نږدې کېدو په

خاطر په خطبو کې پر منبرونو، په پټه او ښکاره، په لمانځه او ورځني ژوند کې ورپسې بدې ردې، سپکې سپورې او کنځلې کېدی.
پر امامانو تېرې هم د پوهو دښمنانو له اړخه و او هم د کم عقلو دوستانو له اړخه.

## د امامانو پر لارویانو تېري

ډېرو بې لارو په ځانخبری او ناځانخبری کې پر اهلبیتو او لارویانو یې ډول ډول تورونه ولګول؛ خو هغوی داسې نه وو، چې څه ورپورې تړل کېدل:
هېڅکله د اهل بېتو لارویان قرآن شریف اړول شوی نه ګڼي.
هېڅکله د اهل بېتو لارویان دولس ګوني امامان الله جل جلاله نه ګڼي.
هېڅکله بهائیان او بابیان د اهل بېتو د لارویانو له ډلې ندي
هېڅکله د اهلبېتو لارویان خپل څلورګوني کتابونه (کافي، من لایحضر، تهذیب او استبصار ) بشپړه توګه صحیح نه ګڼي اوعمل پرې واجب نه ګڼي؛ بلکې غوره کتابونه یې ګڼي.

هېڅکله د اهلبیتو لارویان د حضرت رسول(ص) اصحاب مرتد نه ګڼي؛ بلکې عقیده لري، چې د حضرت رسول(ص) پر ژوند هم ریښتیني مؤمنان وو او هم منافقان؛ نو د پیغمبر (ص) تر مړینې وروسته هم دا خبره شته.
نو هغوی، چې وایي د حضرت رسول(ص) ټول اصحاب ریښتیني عادل مؤمنان وو؛ نو د حضرت رسول (ص) د وخت منافقان دهغه تر مړینې وروسته چېرته ولاړل؟

## ډېر خلک تېروتلي دي

کله وایي، څنګه کېدای شي، چې ټول خلک تېر وځي او خپل پر حقه امام پرېږدي او په بل پسې ولاړ شي؛ نو دا چې خلکو امام علي پرېښود داسې پوهېږو، چې ګواکې حق به داسې و ؟
ځواب: وړومبی دا چې ټولو خلکو امام علي ته شا کړی نه وه او دویم دا چې آیا اکثریت پر حقانیت دلیل دی ؟ آیا سره لدې، چې د قرآن شریف څرګندې کچې موجودې وي؛ نو دوی پرېږدو او د خلکو عملونو ته وګورو؟

لکه چې د جمعې د سورت له وروستيو آيتونو غافل دي، چې حضرت رسول د جمعې د لمونځ پر خطبو بوخت و، چې ناڅاپه پلورونکي راننوتل او پرډهول وهولو يې پيل کړل او خلکو د حضرت رسول (ص) خبرې پريښووې او له ډهل وهونکيو راټول شول او له هغه ټولو خلکو يوازې څو تنه له پيغمبر سره پاتې شول؛ نو آيا د حضرت رسول(ص) پريښوول په سلا وو؟!! ايا قرآن شريف يې ندی لوستې، چې ډېری بني اسرائيلو د حضرت موسی ځايناستی هارون پرېښود او له خوسي را تاو شول.

هو! څو، چې هوسونه او وسوسې وي؛ نود هرې تېروتنې احتمال هم وي.

# د شیعه و او اهل سنتو همغږي

د شیعه او اهل سنتو په کتابونو کې راغلي تقریباً ټول هغه فضایل، چې شیعه و د حضرت علي لپاره روایت کړي، اهل سنتو هم په خپلو کتابونو کې روایت کړي دي او که شیعه ورونړو په کوم ځای کې د حضرت رسول (ص) پر اصحابو نیوکه کړې؛ نودا نیوکه د اهل سنتو په کتابونو کې هم شته.

هو! شیعه نه کومه سیاسي ډله ده او نه بدعتگره؛ بلکې د حرکت سرچینه یې سوچه اسلام، قرآن شریف او د پیغمبر (ص) سنت دي او موخه یې د الله جل جلالهرضا ده.

شیعه هماغه مسلمانان دي، چې له حضرت علي سره د حضرت رسول(ص) د وینا له امله مینه کوي او د پیغمبر (ص) پر ژوندون هم وو او په خپله حضرت رسول(ص) دا لقب د حضرت علي لارویانو ته ورکړی و[1].

---

[1] الغدیر ۲/ ۵۷

د شیعه ټکی څو څو ځلې حضرت رسول (ص) حضرت علي ته کارولی؛ لکه: ((یا علیّ! أنت و شیعتك هم الفائزون)) [1]

## منع شوی مشري

په قرآن شریف کې دوه ډوله مشري او امامت مطرح شوی دی:

د رڼا (نور) امام، چې خلک د الله جل جلاله لوري ته ښیون کوي: ((أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا))[2] او د اور (نار) امام، چې خلک اور ته را کاږي ((أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ))[3] او د مشرۍ پر مسئله هم په منفي اړخ او هم په مثبت اړخ ټینگار شوی دی. په مثبت اړخ کې د حضرت رسول(ص) او اولامر څخه لاروي واجب ده او له الله جل جلاله څخه د لاروۍ په څنگ کې راغلې ده، چې پر الله جل جلاله سربېره د حضرت رسول(ص)، دولس گونو امامانو، الهي اولیاوو او له جامع الشریطو فقهاوو لاروي هم پکار ده او که څوک خبره یې ونه مني؛ نو داسې به وي،

[1] بحارالانوار ٦٨/ ٤٦

[2] انبیاء/٧٣

[3] قصص/٤١

چې د الله جل جلاله او دهغه د رسول (ص) خبره به يې نه وي منلي او له الله جل جلاله سره له شرک سره مساوي کار به يې کړی وي[1]. په منفي اړخ کې هم قرآن شريف يو لړ کسان راپېژندلي، چې بايد ځان ترې وژغورو.

اوس به دهغو کسانو او ډلو لړليک را وړاندې کړو، چې قرآن شريف له لاروی يې منع کړي يو که څه هم هر هوښيار انسان له الله جل جلاله ورکړي فطرت سره پوهېږي، چې د داسې خلکو لاروي پکار نده:

١_گناهگاران او کافران: ((وَلاَ تُطِعْ مِنْهُمْ آثِمًا أَوْ كَفُورًا [2] = او له هغوی د هيڅ يوه گناهگار يا (کافر) او ډېر ناشکره خبره مه منه. ))؛ يعنې په گناهگارانو او کافرانو پسې مه ځئ.

٢_فساد کوونکي: ((وَلاَ تَتَّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ))[3]؛ يعنې څوک، چې فاسدان وي لاروي ترې مه کوئ.

٣ _ ناپوهان: ((وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاء الَّذِينَ لاَ يَعْلَمُونَ))[4]

٤_له دروغجنو لاروي منع ده: ((فَلاَ تُطِعِ الْمُكَذِّبِينَ ))[1]

---

[1] وسائل ١٨/ ٩٩.

[2] انسان/٢۴

[3] اعراف/١۴٢

[4] جاثيه/١٨

٥_غافلان او هوس پالي: ((وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَا تُطِعْ مَنْ أَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَن ذِكْرِنَا وَاتَّبَعَ هَوَاهُ وَكَانَ أَمْرُهُ فُرُطًا [2] = او ځان دې له هغوی سره زغمناك كړه، چې خپل پالونكی سبا و بېګاه يادوي (او) خوښي يې غواړي او ددنيا د ښكلا لپاره له هغوی خپلې سترګې مه اړوه او د هغه مه منه، چې د هغه زړه موله خپل ياده غافل كړی دی او په خپلې ځاني غوښتنې پسې تللی دی او چارې يې له پولې وراووښتې دي.))

٦_ پست وګړي: ((وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ [3] = او د هر يوه سپك، ډېر قسم خور مه منه؛))

٧_اسراف كوونكي: (( وَلَا تُطِيعُوا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ [4] = او تاسې له پولو د اوښتو [خلكو] امر مه منئ؛

٨_ مخكني بې لاري: ((وَلاَ تَتَّبِعُواْ أَهْوَاء قَوْمٍ قَدْ ضَلُّواْ مِن قَبْلُ [1] = او د هغو خلكو په غوښتنو پسې مه ځئ، چې له تاسې

---

[1] قلم/٨

[2] كهف/٢٨

[3] قلم/١٠

[4] شعراء/١٥١

مخکې پخپله هم بې لارې شوي وو او ډېرنور(خلك) يې هم بې لارې کړل او له سمې لارې بې لارې شوي))[1]

د قرآن شريف په نورو آيتونو کې پر مسلمانانو د يهودو او نصاراو ولايت او همداسې پر مسلمانانو د الله جل جلاله د دښمنانو او هغوی، چې د مسلمانانو پېښې کوي؛ خو مسلمانان نه وي او دين يې خپلو موخو ته د رسېدلو لپاره وسيله کړی وي، مشري يې منع شوې ده.

**د قرآني دلايلو له مخې په اهل بيتو پسې ځو:**

تر هغه وخت چې حضرت رسول (ص) ژوندی و؛ نو د سني او شيعه په نوم کوم درز نه و او هغه ټولو ته بېلگه وو ((لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ))[2]

خو تر وفات وروسته يې دوه لارې پيدا شوې؛ يوه د اهل بيتو لار او بله د اهل سنتو لار او په اهل بيتو پسې د تلو لپاره دا دلايل لرو:

۱ _ قرآن شريف د اهل بيتو په اړه وايي:

---

[1] مائده/۷۷

[2] احزاب/۲۱

(( إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً[1] = بېشكه الله جل جلاله يوازې غواړي چې له تاسې"اهل البيت =نبوي كورنۍ" پليتي او ګناه لرې كړي او بشپړ موسپېڅلي كړي. ))

الله جل جلاله په ډاګه اعلانوني چې اهل بيت له ګناه او چټلۍ پاک دی ايا بې له دوی د بل چا په باب دغسې کوم مطلب شته؟!

۲ _ اهل بيت د اسلام له پيله مخكښان وو او په لومړۍ پېړۍ كې وو او قرآن مخكښان ستايلي دي:

((وَالسَّابِقُونَ السَّابِقُونَ. أُوْلَئِكَ الْمُقَرَّبُونَ[2] = او(درېمنۍ ډله) د مخكښانو مخكښان (دي)، همدوی (الله جل جلاله ته) نژدې دي. ))حال دا چې نور مشران داسې نه دي او ټول تر حضرت رسول (ص) وروسته راغلی او په دويمې پېړۍ كې زيږېدلي دي.

۳ _ اهل بيتو د الله جل جلاله په لار كې جهاد كړی او شهيدان شوي دی او په قرآن كې "مجاهدين" پر "ناستو" غوره ښوول

---

[1] احزاب/۳۳

[2] واقعه/ ۱۰، ۱۱

شوي دي: ((وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا)) [1]

؛ خو نور داسې نه دي.

ځکه موږ د قرآني دلايلو له مخې په اهل بيتو پسې ځو، حال دا چې په بې له په نورو پسې تلل د قرآني دليل له مخې نه دي.

[1] نساء/۹۵

# اهل بيت

## اهل بيت څوک دي ؟

### د کسا حديث

يوه ورځ حضرت رسول (ص) د خپلې لور زهرا بي بي کور ته ولاړ او خپله مشهوره "يماني چپن" يې پر ځان واچوله، تر لږ وخت وروسته کوچنی امام حسن راغی او پر خپلې مور يې سلام واچاوه او د خپل نيکه پوښتنه يې وکړه، فاطمې بې بې ورته خپل پلار وښود، بيا امام حسين او ورپسې حضرت علی (ک) راغلل او د پېغمبر تر څنګ کېناستل او په اجازه يې تر چپنې لاندې کېناستل په پای کې فاطمه بي بي هم ورسره کېناسته.

په کور کې نور هم وو؛ نو پېغمبر بل هېچاته تر چپنې لاندې د کېناستو اجازه ورنکړه بيا يې وويل: خدايه! دا مې اهل بيت دي او دهغوی په هکله يې دعا وکړه.

د حضرت رسول (ص) دا شان کړه ځکه و، چې د نورو د ناوړې گټې اخستنې مخه ونیسي او سبا څوک د پیغمبر د تره او ښځې په نامه ادعا ونکړي چې د پیغمبر اهل بیت دي او د تطهیر آیت یې په شان کې دی.

## هره ورځ معرفي کول

حضرت رسول(ص) به د خپل عمر په پای کې هره ورځ د علي او فاطمې بي بي د کور مخې ته راتله او خپل لاسونه به یې دهغه د کور پر وره ایښوول او ویل به یې: ((السلام علیک یا اهل البیت النبوة ))[1] او له دې لارې به حضرت رسول(ص) خپل اهل بیت خلکو ته ورپېژندل، چې خلکو ته فرهنگ شي او خلک په بشپړه توگه اهل بېت وپېژني او نور وگړي که څه هم د پیغمبر(ص) ښځې او خپلوان وي، "اهل بیت" ونه گڼي.

---

[1] بحارالانوار۳۵/ ۲۱۵

## په لمانځه کې پر اهلبېتو درود

د مسلمانانو ټولې ډلې په لمانځه کې پر پېغمبر (ص) او اهلبیتو یې درود وایي: (( اللهم صل علی محمد و علی آل محمد کما صلیت علی ابراهیم و علی آل ابراهیم انک حمید مجید ))

## اولی الامر څوک دی ؟

په قرآن شریف کې وایو: ((أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ ))[1]؛ یعنې له الله جل جلاله، رسول یې او د حکم له خاوندانو لاروي وکړئ. اولی الامر؛ یعنې د واک او فرمان خاوند؛ خو دوی څوک دي ؟
د شیعه و په عقیده اولی الامر یوازې دولس گوني امامان دي، نه هر څوک، چې د واک او قدرت خاوند وي؛ ځکه دا د امر خاوند، چې د الله جل جلاله او رسول (ص) په څنگ گې یې راغلي دي، باید د الله جل جلاله او رسول (ص) پر لار وي؛ نوښکاره خبره ده، چې وایي له الله جل جلاله او رسول (ص)

---

[1] نساء/۵۹

يې لاوري وکړئ؛ يعنې يوه گناه هم مه کوئ. بلخوا که موږ د اولی الامر مصاديق د هېوادنو پاچايان او ولسمشران وگڼو، نه يوازې دا چې معصوم نه دي؛ بلکې کله خو د گناه ځالې همدوي دي؛ نوستاسې په خيال آيا سمه ده، چې الله جل جلاله په يو آيت کې موږ له الله جل جلاله او رسول (ص) يې لاروۍ ته او له گناه کولو ژغوري او په هماغه آيت کې مو له مفسدانو لاروۍ ته راوبلي؛ ځکه د هر قدرت خاوند اولی الامر ندی.

په بله وينا:

لکه څنگه، چې پدې آيت کې د ((اطيعوا)) حکم لرو؛ نوپه نورو آيتونو کې د منع ((لا تطع )) او (( لا تطيعوا )) حکم لرو. الله جل جلاله په يو ځای کې له واکمنانو د لاروۍ حکم کوي او په بل ځای کې مو منع کوي؛ نوموږ ته څه پکار دي ؟

که له اولی الامره مراد د هر واک او قدرت خاوند وي؛ نو پدې دومره ځايونو کې چې الله جل جلاله پاک له اطاعته يې منع کړي وو؛ نو له اطاعت کوونکيو به څه پاتې نشي، لکه ډاکترچې يو ناروغ تهووايي: لبنيات وخوره او بيا ورته ووايي: ماسته مه خوره، شيده مه څښه، پنېر مه خوره او. . . . . نو اولی الامر بايد معصوم امامان وي، چې له هغوی لاروي هماغه له

الله جل جلاله او حضرت رسول څخه لاروي ده او هېڅ ډول فکري او عملي انحراف پکې نه ليدل کېږي او له عصمته برخمن دي.
که له اولی الامر څخه د قرآن شريف مراد غېر معصوم کسان وي؛ نوحق به دا و، چې لاروي به ترې مطلقه نه واى؛ بلکې له مور و پلار څخه د لاروۍ په څېر به مشروطه واى؛ لکه، چې قرآن شريف وايي: که مورو پلار غوښتل، چې اولاد د توحيد له ولکې وباسي؛ نولاروي ترې نه منع ده: ((وَإِن جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا))[1]؛ نوکه له اولی الامر څخه د لاروۍ امر بې له کوم قېد او شرطه راغلی، ددې لپاره دي، چې د قرآن شريف له نظره اولی الامر قېد ته اړتيا نلري؛ ځکه هغوی هغه کسان دي، چې نه تېروځي او عصمت لري.
سربېره پر دې، چې له اولی الامر نه مراد معصوم امامان دي د شيعه او سني په حديثونو کې چی شمېر يې درې سوو ته رسي، ددې امامانو شمېر دولس کسان ښوول شوی دی.

[1] عنکبوت/۸

# اولی الامر دولس دي

په ډېرو روايتونو کې د الله جل جلاله د رسول (ص) د ځايناستيو شمېر ښوول شوی دی:

په ځينو روايتونو کې راغلي دي: تر ما وروسته مشران دولس کسان دي او ټول قريش دي. [1]

په نورو روايتونو کې راغلي دي: تر ما وروسته د امامانو شمېر د بني اسرائيلود نقباو هومره دی.

په ځينو روايتونو کې د الله جل جلاله رسول (ص) د خپلو ځايناستو د بېل بېل نوم اخيستې دی. حضرت جابر بن عبدالله انصاري وايي: چې د ((أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ)) آيت راغې نو د الله جل جلاله له رسول (ص) مې وپوښتل: الله جل جلاله او استازې يې پېژنم؛ خو دا اولی الامر څوک دي، چې له هغوی نه لاروي د الله جل جلاله او رسول (ص) په څنگ کې راغلی دی ؟ د الله جل جلاله رسول (ص) وويل: ای جابره !هغوی زما ځايناستې او د مسلمانانو مشران دي؛ وړومبې يې علي بن ابيطالب او ورپسې يې دوه زامن

---

[1] بحارالانوار ٣٦/ ٣٢١

حسن او حسین او تر دوی وروسته د حسین زوی زین العابدین او ورپسې یې زوی حضرت محمد، چې پر باقر به مشهور وي، چې ته به یې هم وینې. ای جابره! هغه چې دې ولید؛ نوزما سلام پرې ووایه. تر هغه وروسته یې زوی جعفر الصادق او بیا موسی الکاظم بیا علي الرضا بیا محمد التقي بیا علي الهادي او بیا حسن العسکري او اخری یې د حسن عسکرس زوی دی، چې؛ نومې زما نوم دی او پر ځمکه د الله جل جلالهحجت او بقیة الله دی؛ هماغه، چې ختیځ او لویدیځ به دهغه په واسطه فتح کېږي.[1]

## د دولس گونو امامانو موخه یوه ده

د دولس گونو امامانو موخه یوه او هماغه ده، چې د الله جل جلاله د رسول (ص) موخه وه؛ خو د هر وخت د غوښتنې مطابق هر یو د تبلیغ ځانگړې کړنلار درلوده؛ یو به جنگېده بل به سوله کوله، یو به په دعا او توسل له جهل او دښمن سره مبارزه کوله، بل به د بحث او زده کړو د ټولگیو په جوړولو سره خلکو ته لارښوونه کوله. که څه هم د هر یو کړنلارې سره

---

[1] کمال الدین ۳/ ۲۵۳

توپیر درلود؛ خو د ټولو موخه یوه وه؛ لکه د دوو لاسونو په څېر، چې د جامو پرېمنځلو پر مهال هر یو یوې؛ خوا ته حرکت کوي؛ خو د دواړو موخه پاکوالی دی. امام، چې معصوم دی او نه تېروځي؛ نو جګړه کوي او که سوله؛ نو کار یې سم او د الله جل جلاله او رسول (ص) یې د تایید وړ دی.
د الله جل جلاله رسول (ص) د امام حسن او امام حسین په هکله وویل: حسن او حسین د خلکو امامان دي؛ که جګړه وکړي او که سوله. [1]

## مهدي اخر زمان

د تاریخ په رڼا کې یوولس امامان دې دنیا ته راغلي او شهیدان شوي؛ خو دولسم امام تر زوکړې وروسته د الله جل جلاله په خوښه له سترګوغېب شو او ترهغه به غېب وي، چې د الله جل جلالهسلا وي او چې ظهور وکړي؛ نودنیا به له عدل څخه ډکه کړي؛ نو زموږ د وخت امام حضرت مهدي اخرالزمان دی، چې دلته به یو لنډ بحث دهغه د غیبت او ظهور په هکله وکړو.

[1] بحارالانوار ۴۳/ ۲۹۱

په قرآن شریف کې په اخر الزمان کې د امام ظهور ته اشاره شوی ده، چې موږ یې یو څو ته اشاره کوو:
((هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ[1] = او (الله) هغه دی، چې خپل پیغمبر یې له لارښوونې اوحق دین سره ولیږه، چې پرټولو ادیانو یې برلاسی کړي، که څه هم مشرکان ناخوښه وي.))
دا آیت، چې درې ځلې په قرآن شریف کې تکرار شوی، زیرې ورکوي، چې د اسلام دین به پر ټوله دنیا واکمن شي.
د اسلام د نړیوال کېدو لپاره درې شرطه پکار دي:
۱_د نړیوال مشر شتون.
۲_د نړیوال قانون شتون.
۳_د نړۍ چمتوتیا.
نړیوال مشر شته او هغه امام مهدی دی او نړیوال قانون هم قرآن شریف دی، چې هېڅ ډول بدلون او تحریف پکې ندی راغلی؛ خو نړۍ لا نده چمتو شوی؛ نو کوښښ او هلې ځلې پکار دي، چې ظهور ته یې لار هواره شي.

[1] توبه/۳۳

مهدي اخر زمان به هله ظهور کوي، چې خلک له هر اړخه چمتو وي، خلک د اسلام او قرآن شریف له معارفو سره اشنايي پېدا کړي. مهدي اخر زمان خورا ملګري لري؛ خو په روايتونو کې د امام زمان د يارانو شمېر ۳۱۳ کسان ښوول شوي دي، چې پنځوس کسان يې ښځې دي. البته دا کسان د مهدي اخر زمان د لښکر قومندانان دي.

روايت دی، چې مهدي اخر زمان راشي؛ نو د نړۍ ټول متخصصان به ورسره بيعت وکړي.

## د مهدي اخر زمان غيبت

دولسم امام مهدي اخر زمان غيب شوی دی او د لسونو حديثونو په رڼا کې هغه به د غښتلي نړيوال حکومت جوړولو ته راځي. البته غيبت يې په دوو پړاونو کې و: لنډ مهاله غيبت (صغری) او اوږد غيبت (کبری ).

صغری غيبت، چې ۷۰ کاله و؛ نو لارويان به يې د مهدي اخر زمان د څلور تنو نايبانو په واسطه ورسره په اړيکه کې وو او خپلې ديني چارې به يې د هغوی پر فرمان ترسره کولې.

تردې، چې مهدي اخر زمان خپل څلورم نايب ته وويل: تر څو ورځو وروسته به ته لدې دنيا سترگې پټې کړی او تر تا وروسته به زما او د خلکو ترمنځ د اړيکې څوک نه وي؛ بلکې زما لارويان دنده لري، چې دينو عالمانو ته مراجعه وکړي او حکم يې ومني، هغوی پر خلکو زما حجت دي؛ لکه څنگه چې زه پر هغوی د الله جل جلالهحجت يم.

تر دې وروسته د مهدي اخرالزمان اوږد غيبت پيل شو او تر اوسه پورې دوام لري.

پوښتنه: ولې امام زمان غيب شوی دی ؟

ځواب: که د برېښنا اداره د يو کوڅې د رڼا لپاره، يوه ستنه ولگوي او پکې رڼا ته څراغ ولگوي؛ خو دهغه کوڅې ماشومان هغه څراغ پر تيږه وولي او مات يې کړي؛ نو د بريښنا مامور به بل څراغ ولگوي او که چېرته بيا يې مات کړ؛ نوبيا به هم راشي او څراغ به ولگوي ؛ خو که په درېيم ځل ددې کوڅې بې ادبه ماشومان راشي او دا څراغ مات کړي؛ نو د بريښنا اداره به بيا څراغ لگولو ته ډېر لېواله نه وي؛ خو کېدای شي، چې دهغې کوڅې د مشرانو او د هغه ځای د اوسېدونکيو هوساينې ته بيا هم څراغ ولگوي.

خو په خپله فکر وکړئ، چې د بریښنا اداره به تر څو پورې دا کار کوي؟

زموږ د بحث په هکله؛ ظالمو واکمنانو، د ښیون یوولس څراغونه مات کړل، الله جل جلاله هم دولسم څراغ وساته، څو خلک دهغه لیاقت او وړتیا پیدا کړي او د ښیون لدې څراغه گټې اخستو ته وړتیا او چمتوتیا پیدا کړي.

د مهدي اخر زمان راتگ حتمي دی

د هغه پاڅون به د درې څیزونو پلي کولو ته ترسره کیږي: ۱_د طاغوتونو ملا ماتول. ۲_د بېوزلیو خلاصون. ۳_د دین احیا.

مهدي اخر زمان راځي، چې د طاغوتونو ملا ماته کړي او د شرک او نفاق ریښې را ونه ړوي. ((این هادم ابنیه الشرک والنفاق))[1]

امام زمان د الله جل جلاله د ژمنو د پوره کولو او د بېوزلیو د خلاصون او دهغوی واک ته رسولو لپاره دی. ((وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ [2] = او موږ غوښتل چې د هغه هېواد پر بېوزلیو کړای

[1] د ندبې دعا

[2] قصص /۵

شویو احسان وکړو او هغوی (د خلکو) مشران او (د ځمکی) وارثان کړو. ))

امام زمان راځي، چې د اسلام دین نړۍ وال کړي او د توحید بیرغ پر ټوله نړۍ وزړوي. ((لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ))[1]

د امام زمان د غیبت پر مهال زموږ دنده څه ده ؟

پردې خبره ځان پوهول، چې امام زمان به کله راځي او اوس په کوم ځای کې ژوند کوي، دېره مهمه خبره نده او څه، چې ارزښت لري دادي، پوه شو، چې پردې مهال موږ ته څه کول پکار دي او امام زمان له موږ څخه څه تمه لري ؟؛ نو د غیبت پر مهال یې د دندې پېژندل تر ټولو مهمه دنده ده، چې یو څو ته یې اشاره کوو:

۱_ د امام او موخو پېژندل یې. ((اللهم عرّفنی حجتك فان لم تعرفنی حجّتك ضللت عن دینی))[2]

۲_ نورو ته د امام زمان او دهغه د نړیول انقلاب ور پېژندل او راتگ ته یې لار هوارول.

---

[1] صف /۹

[2] مفاتیح الجنان، د لمانځه تعقیبات

۳_ په ښه کړنو او معنوي اړیکو سره د امام زمان د خوښې د لاس ته راوړو لپاره هسې او هلې ځلې وکړو.
٤_ راتگ ته په تمه کېدل یې او د راتگ لپاره یې دعا.
۵_ روغتیا ته صدقه او دعا کول.
٦_لمونځ کول او راتگ ته ځانگړې دعاگانې؛ لکه د فرج او عهد دعاگانې کول.
۷_ د مهدي اخر زمان د ځانگړیو مالیاتو (خمس) ورکول.
۸_د واجباتو ترسره کول او له گناه او محرماتو ځان ساتل.

د امامت د خط تداوم

لکه څنگه چې مو وویل، د امام زمان د غیبت دلیل دا و، چې خلکو مشرۍ ته یې چمتوتیا نه درلوده. الله جل جلالههغه یو مناسب وخت ته ساتلی دی څو خلک دومره پر مختگ وکړي، چې له امامته یې گټه واخلي. له بل پلوه امام زمان د خپل غیبت پر مهال موږ پر خپل حال نه یو پرېښي؛ بلکې سپارښتنه یې کړې، چې له فقهاو، د تقوا لرونکیو او عادلو اسلام پېژندونکیو او له ځانگړو نایبانولاروي یې وکړو.
اسلام اقتصادي، جزایي، نظامي او قضایي قوانین لري، او نه یوازې دا چې دا احکام له منځه نه وړي او نه یې د پلي کولو اجازه ناپوهانو ته ورکوي؛ بلکې پلي کول یې یوازې عادلو

فقهاوو، د تقوا خاوندانو او اسلام پوهان ته ورسپارلي دي، ځو په ټولو پیښو کې د الله جل جلاله د حکم له مخې عمل وکړي او لدې عادلو فقهاو څخه لاروي يې له امام او د الله جل جلاله د رسول (ص) په څېر واجبه ګڼلې ده.

آیا مسلمانان حکومت او نظام ته اړتيا لري ؟ آيا اسلامي ټولنه او هېواد بايد ونه ساتل شي ؟آیا د اسلامي هېواد پولې ساتل ندي پکار ؟آيا په اسلامي هېواد کې به قوانين بايد پلي نشي؟ آيا د مظلوم حق بايد له ظالم څخه وا نه خيستل شي او ظالم بايد محاکمه نشي ؟ آيا د اسلام غړ بايد نورو هېوادونو او نړۍ ته ونه رسي ؟آيا د انبياوو او امامانو کوښښونه او هلې ځلې يوازې د هغوی په خپل وخت پورې ځانګړې وی او ټولو وختونو او ځايونو ته نه وی ؟؛ نوکه ددې پوښتنو ځواب هو وي او اسلام، نظام او حکومت ته اړتيا لري او ټولنه قانون ته او د حقوقو او د اسلامي هېواد د پولو ساتل مطرح وي؛ نو د مهدي اخر زمان د غيبت پر مهال هم بايد اسلامي حکومت وي؛ ځکه بې له غښتلي او حساب شوي تشکيلاتو هېڅکله نشو کړای، چې له قانون، د هېواد له پولو، ځان، مال او خپلې ابرو دفاع وکړو، په تېره بيا اوسمهال، چې د اسلام ټول مخالفين

ستر تشکیلات لري، او که حکومت ته اړتیا وي؛ نوحاکم ته هم اړتیا ده.

اوس، چې پوه شو، اسلام د خپلو قوانینو پلي کولو ته حکومت ته اړتیا لري او هم حاکم ته؛ نوباید پوه شو، چې حاکم باید څه ځانګړنې ولري.

آیا پکار دي، چې د الله جل جلاله په احکامو په ژوره توګه پوه وي که نه ؟ که چېرته ددې خبرې ځواب مثبت وي؛ نو د تقوی خاوند او اسلام پېژندوکي سیاستمدار ته اړتیا ده او دا هماغه دی، چې موږ ورته ولایت فقیه وایو.

هغوی، چې ولایت فقیه نه مني؛ نو دا لاندې نظریات به مني:

۱_ اسلام یوازې لمونځ، روژه او یو لړ فردي اخلاقیات اوعبادتونه دي او په مهمو اجتماعي، حقوقي، قضایي، سیاسي او اقتصادي کارونو کې کار نلري

۲_ اسلام یوازې د الله جل جلاله د رسول (ص) د وخت لپاره و او تر هغه وروسته د مهمو اجتماعي قوانینو ځای یوازې په کتابونو کې دی.

۳_اسلام اجتماعي او حکومتي قوانین لري او د قانون پلي کوونکیو ته یې شرایط ندي ټاکلي او هر څوک که څه هم که

فاسق وي او که فاجر کولای شي، چې د چارو واک په لاس کې واخلي.
آیا اسلامي ټولنه د مهدي اخر زمان د غیبت پر مهال حاکم او حکومت ته اړتیا نلري؟![1]

په یو روایت کې راغلي: هېڅ امت او ملت بې مشره نه دی او دهغه ټولنې واک دهغه مشر په لاس کې وي څو دهغه په حکم سره بیت المال راټول او وویشل شي او هم خلک د هغه په حکم سره د اسلام ددښمن پر خلاف وجنګیږي، هم خلک سره را ټول کړي او له تفرقې نه یې وساتي او که ټولنه داسې مشر ونلري؛ نوټولنه شیندل کیږي او په الهي احکامو او قوانینیو کې او د الله جل جلاله د رسول په حکمونو کې بدلون راځي.[2]

ګورئ، چې پدې روایت کې د حکومت او مشرۍ مسئله د ژوند تر ټولو ستره او مهمه مسئله بیان شوی ده او ښکاره خبره ده، چې د بېوزلیو په ګټه د مالیاتو راټولول او په عادلانه توګه یې ویشل، له مخالفیونو سره جګړه او د ټولنې د وګړیو راټولول

[1] د امام خمینی د البیع کتاب ۴۶۲ مخ
[2] بحارالانوار ٦/ ٦٠

هغه څه ندي، چې يوازې دالله جل جلاله د رسول (ص) او امامانو په وخت پورې ځانګړې خبره وي او د غيبت پر مهال ټولنه سر ايله او پخپل حال پرېښوول شي.

د روايتونو په رڼا کې هم اسلام د حکومت چارې عادل فقيه ته سپاري، چې يو څو ته يې اشاره کوو:

د الله جل جلاله رسول (ص)، فقها خپل رسول معرفي کړي دي؛ لکه چې وايي: خدايه ! پر ځايناستو مې ورحمېږي. د الله جل جلاله له رسول (ص) وپوښتل شو، چې ستا ځايناستي څوک دي ؟ و يې ويل: (( الفقها ))[1]

د الله جل جلاله رسول (ص) وويل: عالمان د انبياو وارثان دي.

حضرت علي وايي: الله جل جلاله له عالمانو ژمنه اخستې ده د بېوزليو د لوټ کېدو او پرې د تېري پر وړاندې چوپ کېنني[2].

په دې کې هېڅ شک نشته د بېوزليو ملاتړ او د ظالم ملا ماتول تشکيلاتو ته اړتيا لري.

---

[1] وسائل ۱۸/ ۱۰۱

[2] نهج‌البلاغه ۳خطبه

حضرت علي وايي: عالمان د ولس واکمنان دي.[1]
حضرت امام حسين وايي: د چارو واک بايد د تقوا خاوندانو او الله جل جلاله پېژندونکيو عالمانو په لاس کې وي، هغوی چې د الله جل جلاله په حلالو او حرامو کې خيانت نکوي او امانت ساتونکي وي[2].
په يو روايت کې راغلي: د هواري لپاره طاغوتي نظامونو ته مراجعه مه کوئ، حتی که څوک د طاغوت له لارې خپل حق لاس ته راوړي؛ نو حرام دی (کېدای شي، ځکه وي، چې طاغوتي نظام ته مراجعه پرهغوی د تاييد ټاپه لګول وي)؛ بلکې تاسې ته پکار دي، چې داسې خلکو ته مراجعه وکړئ، چې زموږ له روايتونو او معارفو سره ژوره اشنايي ولري او زه هغوی ستاسې لپاره قاضيان ټاکم او پوه شئ، هرحکم، چې هغوی ورکړ او تاسې ونه منه؛ نوپه حقيقت کې د الله جل جلاله حکم به مو نه وي منلې او له الله جل جلاله سره يې شرک کړی دی[3].

---

[1] غرر الحکم
[2] تحف العقول
[3] کافی ۱/ ۶۸

پو بل روايت کې راغلي: فقها د اسلام کلا گانې دي[1].

مهدي اخر زمان پر خپلو لاسونو يو ليک خپل يو نواب ته وليکه، چې پکې يې سپارښتنه کړی ده: د ټولنې په پېښو او ستونزو کې هغه عالمانو ته مراجعه وکړئ، چې زموږعلوم رانقلوي او لکه زه، چې په تاسې کې د الله جل جلالهحجت يم؛ نوهغوی هم په تاسې کې زما حجت دي[2].

---

[1] کافی ۱/ ۳۸

[2] وسائل ۲۷/ ۱۴۰